# د ترکيې مازيگرى

(یونلیک)

قاضي محمد حسن حقيار

۱۳۹۴ لمریز کال

Ketabton.com



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ترکيې مازيگرى

## ( د ترکيې يونليک)

محمد حسن حقيار

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د ترکیې مازیګرۍ

لیکوال: محمد حسن حقیار

خپرندوی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۴۶)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

**سرلیک** **مخ**

د سر خبرې..........................................۱
وېزه او ملګري..........................................۳
د قسطنطینې پر لور..........................................۶
د ترکیې لنډه پېژندګلوي..........................................۱۰
دا مهال د ترکیې دیني حالت..........................................۱۴
د استانبول رڼه ماضي..........................................۱۶
مازیګرى د استانبول مزه کوینه..........................................۱۹
په نشه کې تېشه..........................................۲۳
انجلۍ د یار په ننداره شوه ..........................................۲۹
قونیه..........................................۳۳
هیچ مولینا نشد مولاى روم..........................................۳۸
صوفیانه رقص او سماع..........................................۴۴
قره مان که قهرمان؟..........................................۴۸
ګل مې په لاس درته ولاړ یم ..........................................۵۴
نورو ته نوى ماته تکرار کلى..........................................۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

...تامریدی شمس تبریزی نشد..............................۶۲
د نوشیهر پر لور..........................................۶۶
نوشیهر..................................................۶۹
کپدوکیا که د فطرت کرشمه؟..............................۷۳
ترځمکې لاندې هېښوونکی تاریخي ښار........................۸۰
سیم گیټ................................................۸۶
وروستۍ ناسته او د خدای په امانۍ شېبې....................۸۹
جدايي راغله لارې دوه شوې................................۹۲
د استانبول رڼاگانې.......................................۹۵
چې خان یې په یاران یې...................................۹۹
رښتیا هم عاشق ړوند وي...................................۱۰۳
یا لندن یا مرگ...........................................۱۰۶
د سفر پای...............................................۱۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سرخبرې

د نړۍ ګڼو هېوادونو ته د شخصي او رسمي سفرونو توفيق راپه برخه شوی دی، خو د ګڼو بوختيا وو له کبله يې د خاطرو ثبتولو او ياپه بله وينا يون ليکلو ته اوزګار شوی نه يم ،د حج يونليک يا د حرمينو هنداره مې ځکه وليکله چې حجاجو ته د حج مناسک او مراسم وروښيم ، د فرضو ،واجبو ، سنتو او مستحبو توپير ورته جوت کړم او افغانان او په خاصه توګه افغان چارواکي هلته له موجودو هغو ستونزو څخه خبر کړم چې د دوی د چارواکيو او له نورو ګڼو خواوو څخه افغان حجاجو ته ورمخ کېږي.

که څه هم ترکيې ته زموږ دا سفر لنډ او رسمي و خو د ترکيې له مد او جذر ډک تاريخ ، شاوخوا شپږ نيم سوه کاله د اسلامي خلافت مرکزيت ، صليبي جګړې ، اوس هلته د اسلامي نظام پروړاندې موجود کورني او بهرني اصطکاکات او د ترکيې له اوسني پرمختګ او د چارواکيو له سياسي کفايت او عملي حکمت څخه زموږ د ولس او چارواکيو خبرول او له دوی څخه د پند او درس اخستلو فکر د دې لامل شول چې د دې سفر خاطرې له خپل ولس سره شريکې کړم.

د سفر اصلي موخه مو د مشهور او نړيوال شهرت لرونکي صوفي او عارف شاعر حضرت مولينا جلال الدين بلخي رومي په نړيوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمینار کې ګډون و.هغه مولینا چې نن سبا نړیوال خو پربړده چې آن ډېر افغانان هم له دې څخه خبر ندي چې ګوندې دا ویاړ زموږ دی او دختیځ د ستوري علامه سید جمال الدین افغان په څېرپر ده هم نور دعوه کوي .

په دې سفر کې زموږ یوه هراتۍ ملګرې هم وه چې کړنې او چلند یې زموږله افغاني دود او مذهب سره په ټکر کې وې ، خپل نوم یې بل دی خومایې کورنۍ ته په احترام او کولتوري نزاکتونو ته په پام سره نوم بدل کړی او دلته مې د سیمین په نوم یاده کړې ده .دا ځکه چې وایي پریوې ښځې ښېړې څو مخونه خوربړي

نورنو دا تاسو او دا مو (د ترکیې مازیګری).

درنښت

ستاسو حقیار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وېزه او ملګري

د سفريو ملګرې مې ځو اويا کلن سپين ږيرى پوهاند عبدالقيوم قويم و بل يې د هرات او سېدونکې ،دځوان را ډېو مشره او مدني فعاله سيمين وه ،او بله يې د مزار او سېدونکې مدني فعاله پېغله فرخنده رجبي وه، کله چې د ترکيې سفارت ته د وېزې اخستلو لپاره ورتللو نو زه ،پوهاند قويم او سيمين بايد د عامې روغتيا په څلور لارې کې لس بجې راټول شوي واى، د شېرپور او عامې روغتيا پرترمنځ سړک کوم لوړ پوړى چاروا کى تېرېده نو شل دقيقې ورته دا سړک بند و ،زه هم همدلته ايسار شوم پر سړک دومره ترافيکي ازدحام شو چې شل دقيقې نور هم لار خلاصه نه شوه، څلوېښت دقيقې وروسته چې د وعدې ځاى ته ورسېدم نو قويم صاحب او زموږ د سفر د زمينې چمتو کوونکى ښاغلى تاج صاحب راغلي وو خو سيمين لا نه وه را رسېدلې خوښ شوم چې ددوى د انتظار او سترتيا په مسؤوليت کې راسره يو بل څوک هم شريک شو ،له تاج او قويم صاحب سره مو د سفر پر جزئياتو خبرې کولې خو سيمين له تاج صاحب سره په ټېليفوني تماس کې وه دهغې خبرې خو مونه اورېدلې خو تاج صاحب به ورته ويل چې ځاى دې نږدې دى له موټره پلې شه او په پښو راشه ،وروسته يې موږ ته وويل سيمين د وزير اکبرخان په دولسم سړک کې په بيروبار کې بنده ده، خو څو دقيقې وروسته مو چې کتل هغه د هوايي ډګر له لورې را ښکاره شوه سيمين موږ يوه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وه لیدلې خو چې په ځلور لارې کې رابښکاره شوه نو ومو پېژندله ،هغه نرۍ دنګه او غنمرنګه انجلۍ وه، خپل عمر یې ۲۴ کاله وښود وروسته پوه شو چې هغه د الوتکې له لارې همدا اوس له هرات څخه را رسېدلې وه. تاج صاحب د ترکیې سفارت ته زموږ سپارښت وکړ او یو پېژند پاڼه یې هم راکړه په زمبق ځلورلارې کې د ترکیې سفارت ته ورغللو خلک په کتار کې نوبت ته ولاړ و خو زموږ واسطه پخه وه دستي دننه ورغوښتل شو فورمې راکړل شوې د پاسپورت او تذکرې فوتو کاپي یې رانه واخستل او د سبا وعده یې راکړه سبا یې راته فون وکړ چې ویزې مو منظورې شوې او له ۲۰ډالرو سره راشئ ما پیسې د خپل همکار رفیع الله روشن په لاس ور ولېږلې او پاسپورت مې هم هماغه راوور، کله چې د ترکیې له سفارت څخه را ووتلو نو پوهاند قویم مو رخصت کړ دا چې د ترکیې د سفارت ترڅنګ د موټرو تم ځای نه وو نو ما خپل موټر هم رخصت کړی و، سیمین ته مې وویل ، که چېرې لېرې ځې چې موټر راوغواړم هغې راته وویل چې نه په انصاري ځلورلارې کې سیټي سنټر ته ځم ښه ده چې دواړه پلې لاړ شو، نرۍ نرۍ باران هم ورېده، پر لاره مو یوبل لاهم وپېژندل او کیسې مو سره وکړې ،زموږ دفتر هم انصاري ځلورلارې ته نږدې دی، دا چې له دې سره د ملګرتیا او پلې تګ له کبله باران لوند کړم څو ځله یې بخښنه وغوښتنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاج صاحب ویل چې ترکیه په مزار کې قونسلګري لري او فرخنده هملته ویزه اخلي.

له کابل څخه استانبول (قسطنطنیې) او له استانبول څخه قونیې او نورو ښارونو اوله نورو ښارونو څخه استانبول او کابل ته هوايي ټکټکونه پر ترکېش ایرلاین کې مخکې ترمخکې اخستل شوي وو.

له پروګرام سره سم مو په دوهمه ورځ یوولس بجې د جمعې په ورځ له کابل څخه استانبول ته الوت و، موږ پنجشنبه غرمه تاج صاحب مېلمانه کړو، فرخنده هم راغلې وه، هغه له قده لنډه خو نوره سره او سپینه هوښیاره او چالاکه نجلۍ وه، سره له دې چې موږ ته د ترکي او امریکايي کورښو لخوا په ایمیل هم پروګرام ښه تشریح شوی و بیاهم مېلمستیا د پروګرام پر جزئیاتو د لا ښه پوهېدلو لپاره وه، تاج صاحب څه نغدې پیسې هم موږ ټولو ته راکړې.

له دې ځایه د غرمنۍ له خوړلو وروسته رخصت شو او سبا اته نیمې بجې مو په هوايي ډګر کې وعده کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قسطنطينې پر لور

سیمین، فرخنده او استاد قویم له وعدې سره سم نهه نیمې بجې راغلي وو خو د جمعې ورځ وه له ما سره د ترافیکي بیروبار او د لارې د بندېدلو اندېښنه نه وه نهه نیمې بجې ورغللم ، د هوايي ډګر نړیوال ترمينل کې، ډېر بیروبار نه و تالاشي ،بورډینګ پاسونه،د بیکونو تلل (وزن) خروجي هرڅه په اسانه او لږ وخت کې تېر شول، زه پر تالاشۍ نه خفه کېږم خو دا چې د هوایي ډګر متعصبه عسکر چې له پښتون او د پښتنو له جامو سره حساسيت لري د تالاشۍ پر مهال زما په شمول پر هر چا آن بوټان او واسکټونه هم وباسي نو ډېر زور راکوي.

پاو کم یوولس بجې الوتکې ته د ورختلو غږ وشو ، زما په بورډینګ پاس کې په ښنبه شوې څوکۍ له شیشې سره نښتې وه، د الوتکې مېلمه پال ښکلي هلکان او ښکلې ترکۍ نجونې وې.

ما د ترکانو د ښکلا ډېر صفتونه اورېدلي و ، د حج په مراسمو کې مې بیا عملاً ولیدل د سید جمال الدین افغان په لېسه کې اروانښاد مولوي عبد الظاهر چې د پروان ولایت د غوربند او سېدونکی او ډېر انقلابي ،ویښ ،خوځنده ،نوښتګر او جید عالم او زموږ د تفسير اوعقاید استاد و یوه ورځ موږ ته په ټولګي کې وويل چې د هغو پلټنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـه مخـې چـې ده کـړې دي ورتـه جوتـه شـوې ، دا چـې خلـک پـه فولکلوریکو کیسو کې د پوان او ښاپیري یادوي نو دا د پوان ځینې لوړ قدي او چاغ تور پوستکي سوډانیان او ښاپیرۍ ښکلې ترکانې دي.

د الوتکې دننه سکرین چې کله به پکې فلم ښودل کېده ښوول چې الوتکه په عشق اباد او اذربایجان (باکو )استانبول ته روانه ده.

کله کله پر همدې سکرین د کابل له هوايي ډګر څخه طی شوی واټن ، استانبول ته پاتې واټن ،له ځمکې لوړوالی ، د سفر د پیل ساعت او دقیقې، د سفر پاتې وخت په ساعت او دقیقو ،دننه او بهر د هوا درجه ، د الوتکې د تللو مسیر هرڅه ښودل کېده، الوتکه چې لس باندې یوولس بجې الوتې وه څه باندې پنځه بجې استانبول ته ورسېده.

پر لاره یې له معمول سره سم ډوډۍ راکړه خو ډوډۍ یې خوندوره نه وه. دې سفر مو شا وخوا شپږ ساعته ونیول خو تهران ته چې تللو نو په اسمان ایرلاین کې یې تر تهران پورې دوه ځله ښه خوندوره ډوډۍ راکړله، لومړی ځل مشهد ته له رسېدو وړاندې او دوهم ځل په مشهد کې له ۴۰ دقیقو ناستې وروسته کله چې تهران ته روان شوو.

ما دنړۍ ډېر ښارونه لیدلي جده هم ښکلې ده،دوبۍ هم خو استانبول بیا ځانته خوند او ځانته ځانګړنې لري، له هوا څخه ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د استانبول ښار ډېرې ودانۍ ګلابي ته ورته رنګ لري او ډېر يې په يوه نقشه جوړې شوې دي.

الوتکه پر استانبول ورښکته شوه کله پر سمندر کله پر ودانيو، تک شين ښکلي پور او معمور د اسمانڅکو او سمندر لرونکی ښار، هغه هم چې سمندر يې په منځ کې پروت وی او د ښار دواړه برخې په لوړو لوړو او اوږدو پلونو نښلول شوې دي، د نړۍ لومړنی ښار چې په دوه وچو کې پروت دی او اسيا او اروپا يې سره نښلولې دي.

ما په، لينګراد، فنليند، کراچۍ، قطر، کويټ، دوبۍ، ممبيي، بندرعباس او جده کې هم د بحر غاړې ليدلي دي خو هغه ښکلا چې په استانبول کې يې لري په بل ځای کې يې نلري، دلته د بحر غاړو ته شنې غونډۍ او د مري او يا خوست د تڼيو د ولسوالۍ د عاد ممد د سيمې په څېر هرڅه شنه شنه دي.

الوتکې په استانبول کې د اتاترک په نړيوال هوايي ډګر کې ښکته کړو دلته نړيوال هوايي ډګر بېل او د کورنيو الوتنو ډګر بېل دی.

زما ملګرو په کابل کې خپل بار (بکسونه) الوتکې ته ورکړي او ورته يې ويلي و چې په قونيه کې يې ترې غواړي خو زما سامان کم و، ما الوتکې ته ونه سپاره، بلکې له ځان سره مې کېښود کله چې استانبول ته ورسېدو نو بايد همدلته مو بايد ترکيې ته دننوتلو مهر (خولي) وهلې وای په لوی هوايي ډګر کې مو له ډېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنو وروسته هغه ځای پیدا کړ چې ترانزیټ د خولي وهي، د استانبول هوايي ډګر اوس د نړیوال مرکز حیثیت خپل کړی او هغه مسافرین چې مستقیم الوت نلري له همدې ځایه الوتکې بدلوي. په هوايي ډګر کې یو سالون ځای کې د پرش غرفوته سلګونه خلک کتار ولاړ وو ټول یې بهرنیان او لوڅ او نیمه لوڅ وو زه هم نولسمې غرفې ته ودرېدم دلته نه بیروبار وي او نه بې نظمي هر سړی د نوبت په مراعات مجبور دی او هر سړی نوبت مراعاتوی.

ما په ټو نړیوالو هوايي ډګرونو او ټو هېوادونو کې لیدلي هغه افغانان چې په خپله خاوره کې نه قانون مني او نه نظم او نه د سپلین خو په نورو هېوادونو او هوايي ډګرونو کې بیا دا هرڅه مني. دلته هم په کتارونو کې افغانان و خو هغه د پیښوریانو خبره مجال نه وو چې څوک دي بې نظمي وکړي او یا دې له کتار څخه ووځي دلته چې زه وینم افغانان قانون او نظم دواړه مني نو په افغانستان کې هم د دوی قانوني کېدلو او قانون منلو ته هیله من شم او فکر کوم چې که قانوني حکومت راشي او د قانون د تطبیق هوډ ولري نو افغانان قانون مني، دا چې اوس بې نظمي او بې بندوباري ده نو چې: (ورانه ده له خانه ده).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ترکيې لنډه پېژندګلوي

ترکيا اروا سيايي ( اروپا ـ اسيا ) هيواد دی چې لويه برخه يې اناتولي په کوچنۍ اسيا اوپه سويل کې په باختر اسيا اومنځني ختيځ کې پرته ده او کوزه برخه يې چې د ترکيې په نوم اوبالکان د اوروپا ختيځه برخه کې واقع ده.

ترکيه له ختيځ خوا له ايران ،اذربايجان ،ارمنستان او ګرجستان سره ، په سويل کې له عراق او سوريې سره او په شمال يا د اروپا په خواکې له بلغارستان او يونان اوله تورې بحيرې سره اوږده پوله لري.

د سويل لخوا له مديترانې سره هم په اوبو کې پوله لري.

بيفور او دار داتل هم په ترکيه کې دي.

نفوس يې د وروستۍ سر شمېرنې له مخې شاوخوا ۷۲ميليونه ، پراخوالی يې ۷۸۳۱۵۲۲کيلو متره مربع دی ترکيه د افغانستان په څېر شين هېواد دی بارانونه پکې ډېر دي د نفوس ۸۵سلنه يې سنيان او ۱۵ يې شيعيان دی ،ترکان تکړه مسلمانان دی. که څه هم په ۱۳۹۲هـ س کال د مصطفی کمال اتا ترک لخوا يې د حکومت بڼه لاييک يا سکولريزم شو خو خلک يې اوس هم ښه کلک مسلمانان دي که څه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرا ستانبول ،انقره او ازمیر کې اوس هم بې حجابي او عیاشي ډېره اوشراب ،عام دي خو د قونیې په څېر مذهبي ښارونه هم لري.

په ترکانو کې ختیځ اولوېدیځ دواړه کلتورونه شته دي خو ختیځ کلتور پکې قوي دی.

له اتا ترک وړاندې د ترکیې رسم الخط په عربي لیکل کېده خو اتاترک په لاتیني ژبه واړاوه.

د ترکیې یا د عثماني اسلامي امپراطورۍ مراندې تر افریقا منځني ختیځ اروپا پورې رسیدلې وې خو له نړیوالې جګړې وروسته د عثماني خلافت ډېرې برخې د فرانسې او برتانیې لاس ته ورغللې ، په۱۳۰۲ هـ لمریز (۱۹۲۳ زیږدیز ) د یو سیکولر او د پردیو د غلام شخص مصطفی کمال باشا چې ځانته یې اتاترک یا د ترکانو د پلار نوم ورکړی و اوداهال یې ډېرې نظامي بریاوې هم تر لاسه کړې وې دعثمانیانو د شپږم خلیفه ځای ونیوه او سیکولر حکومت یې اعلان کړ.

دترکیې دحکومت طرز جمهوري دی یو پارلمان لري، تورستي ښارونه یې استانبول، انتالیا ، ازمیر،قونیه او نوشهره دي

سیکولر مصطفی کمال:

دترکیې او دلته دسیکولریزم دترویج له تاریخ سره د مصطفی کمال نوم تړلی دی هغه په۱۸۸۱ زېږدیز کال د مې په ۱۹مه د اوسني

(c) ketabton.com: The Digital Library

یونان چې هغه مهال د اسلامي خلافت یوه برخه وه په ستالونیکي ښار کې وزیږېد.

د عثماني خلافت پر مهال پوځ ته ورغی په طرابلس کې له ایټالیایانو سره وجنګېد ، د بالکان په جګړو کې قوماندانۍ ته ورسېد په ۱۹۱۲ زیږدیز کال د دار دانل په تنګي او ګالیبولي جزیره کې هم له یونانیا سره وجنګېد ، په لومړۍ نړیواله جګړه کې یې د ترکیې د استقلال د جګړې قومانده په لاس کې وه ، د جګړې له پای وروسته د شپږم خلیفه محمد له بې کفایتۍ څخه په استفادې یې د هغه نظام رنګ او سیکولریزم یې حاکم کړ.

کمال باشاه له روحانیونو سره جګړه پیل کړه ، حجاب یې منع کړ ، اروپایي جامې یې اجباري کړې ، دین یې تر مسجده محدود او له سیاسته یې بېل کړ ، ښځې یې له شرعي حدودو څخه وتلو ته وهڅولې عربي خط یې په لاتیني واړاوه.

مېرمن یې (لطیفې هانم) په ۱۹۳۰ زیږدیز کال کې هغه جامه واغوستله چې ځینې اروپایان یې نن هم نه اغوندي.

مساجدو کې یې په لاسپیکر کې اذان بند کړ ، شراب یې عام کړل ، او د اسلام پر ضد یې هر اړخیزه مبارزه پیل کړه ، اتا ترک د ۵۷ کالو په عمر د نومبر په لسمه د دلمه بارغمي په مانۍ کې په استانبول کې وفات شو ، او په انقره کې خاوروته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتاترک د استانبول په اياصوفيه کې هغه شپږ سوه کلن تاريخي مسجد چې سلطان محمد فاتح د يوې کليسا پر ځای جوړ کړی و د عيسايانو د اعتراض په پلمه پر موزيم بدل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوسمهال د ترکیې دیني حالت

ترکیه اوس یا د اسلامي خلافت له سقوط څخه نوي کاله وروسته بل حالت لري، د اتاترک د سیکولري کړنو په نتیجه کې نږدې وه چې ترکیه هم د هسپانیې په برخلیک اخته شي، دلته په ترکیه کې د نجم الدین اربکان تر بریا او په ټولټاکنو کې د اتا ترک د جمهوري ګوند تر ماتې پوره **۷۵** کاله سیکولریزم حاکم و، دین بېل او سیاست بېل و، په ترکیه کې د اروپا په څېر ازادي او عیاشي وه خو حقیقت نه پټېږي، خلک نور له سیکولریزم او بې دینۍ څخه ستړي شول **۷۵**،کلن سیکولریزم ترکیه په تمامه معنی شاته وغورځوله د ترکیې اقتصاد ،کلتور او سیاست شاته ولاړ خو اوس هلته بېرته دین ته تمایل پیدا شوی دی خلک او په ځانګړي توګه ځوانان دین ته مخ را اړوي، اسلام ورو-ورو بېرته خپل ځای پیدا کوي، اربکان ،عبدالله ګل او طیب اردوغان ټول پوه.-.عالم او د ترکیې په حساسیتونو پوه خلک دي او تدریجي اصلاحات یې پیل کړي دي خو ډېر ورو او حکیمانه. داسې چې نه د ترکي ځوانانو احساسات را وپاروي او نه کفري نړۍ ته پلمه په لاس ورکړي ،ترکیې په ناټو کې هم خپل غړیتوب ساتلی ،د نړۍ په کچه خپل اعتبار هم ساتي او اصلاحات هم راولي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ترکيې حالت تېز موټر ته ورته دی، اوس که موټر چلوونکی غواړي چې د ګړندي یا په تېز رفتار کې د تلونکي موټر مخ واړوي نو اړ دی چې لومړی د موټر سرعت را کم کړي او مخ یې وګرځوي او که په همدې سرعت کې اشترنګ پوره تاو کړي نو موټر اوړي او ترې چپه کېږي.

ما چې لومړی استانبول ولیدنو حیران شوم چې دې خلکو څنګه اسلامپالو ته رایه ورکړېده،د ازادۍ ،فحاشۍ له اسلام سره د ځوانانو واټن او بیا اسلامي نظام ته رایه ورکول یې ښځي د حیرانتیا خبره ده.

خو اوس هلته اردوغان او عبدالله ګل په حکمت اصلاحات پیل کړي دی ،مثلاً په شرابو یې مالیه زیاته کړه،په لیلیو کې یې د هلکانو او انجونو ځایونه بېل کړل،پر حجاب بندیز یې ختم کړ،په لاوډ سپیکر کې اذان ته اجازه وشوه، د اتاترک په نوم دولتي مډال یې له منځه یووړ او .....

هیله ده چې یو ځل بیا د اسلام مجد او عظمت نه یوازې په ترکیه ، بلکې به ټوله اسلامي نړۍ کې را ژوندی شي، زه چې د ترکیې او سني نظام ته ګورم نو ماته دا سپېڅلې نښې او هیلې ښکاري.

څانګه به نن سبا کې ګل شي

ما یې په سر کې سرې غوټۍ لیدلې دینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د استانبول رڼه ماضي

د اسلامي نړۍ مشهور اتل سلطان محمد فاتح استانبول (پخوانۍ قسطنطنیه ) چې د عیسوي ارتودوکس دین ډېر مهم مرکز وو په ډېر ځانګړي ظرفیت او جنګي مهارت ونیوه ، قسطنطنیه د ختیځ روم د امپراطورۍ پلازمینه وه چې دې امپراطورۍ په لبنان ، فلسطین او سوریې هم واکمني درلوده ، د قسطنطنیې بنسټګر لومړی کنستانستین ( له ۲۷۴ څخه تر ۳۳۷م )د روم لومړنی امپراطور و چې عیسویت یې ومانه همده په ۳۳۰ کې پیزانیسوم (اوسنی استانبول ) دخپلې امپراطورۍ د پلازمینې په توګه وټاکله او تر ۱۴۵۳ز پورې یې له یوولس سوه کالو ډېر دلته حکومت وکړ ، د بیزا نیتوم نوم دعیسایانو د امپراطورۍ په وخت کې پر قسطنطنیه واوښت او کله چې سلطان محمد فاتح دا ښار فتحه کړ نو نوم یې پرې اسلامبول کېښود ، چې د بې دینه مطفی کمال اتاترک پر وخت کې اسلامبول پر استانبول بدل شو ، سلطان محمد فاتح په ۱۴۵۱ زېږدیز کال په ۲۲ کلنۍ کې واک ته ورسېد ، تر ده وړاندې هم عثماني حاکمانو د استانبول د نیولو لپاره یوولس ځله بریدونه کړي وو خو دا چې د استانبول درې خواوو ته اوبه (سویل او لوېدیځ ته یې مرمره

(c) ketabton.com: The Digital Library

بحر، ختیځ او شمال ختیځ ته د بوسیفور تنګی او شمال ته زرین سمندرګی یا خلیج دي او لوېدیځ ته یې وچه ده چې ډېر لوړ او پلن دیوالونه پرې را تاو شوي او قسطنطنیه یې په کلکه نظامي کلا بدله کړې وه نو دا برېدونه ناکام شوي وو.

هرمسلمان خلیفه هڅه کوله چې دا ښار ونیسي ځکه چې رسول الله (ص)فرمایلي وو: (هغه چې قسطنطنیه نیسي ښو مره ښې امیر دی او لښکر یې هم ښو مره ښه لښکر.))

په سورت روم کې هم دهمدې او ختیځ روم امپراطورۍ یادونه شوېده.

سلطان محمد فاتح داځل کلک هوډ وکړ چې قسطنطنیه به نیسي ډېر پیاوړی چمتو والی یې ونیوه، دهغه وخت تر ټولو عصري نظامي تجهیزات او توپونه او ټانګونه یې جوړ کړل، ۲۵۰ زره روزلی لښکر یې برابر کړ، سلګونه بحري جنګي بېړۍ یې تیارې کړې، قسطنطنیه یې له څلور خواوو محاصره کړه څو څو ځله یې جنګي تکتیکونه تغییر کړل، لسګونه متره لوړې ګرځنده د لرګي کلاګانې یې جوړې کړې، تر ځمکې لاندې لسګونه تونلونه یې وو ېستل ،د دښمن په زړه کې یې د وېرې خپرولو لپاره ګڼې بریالۍ لارې چارې وکارولې او دنړۍ په تاریخ کې لومړی او وروستی ځل وو چې اویا بحري بېړۍ یې په یوه شپه کې په وچه کې په لوړه او ټیټه پنځه کیلو متره لېرې په جنګي سپاهیانو ولېږدولې د بیزانسي امپراطور او دده مرستې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلیو لسګونه جنګي بېړیو د اښار ساته او د ښار له ساحل څخه لېرې یې بېړیو اړه جوړه کړې وه، خو ده پخپل بې مثاله استعداد او نظامي خارق العاده استعداد او تکتیک په یوه شپه کې په سپاهیانو ۵ کیلو متره سرک جوړ، په غوړیو او نورو موادو برابراو په وچه د بېړیو تېل وهلو او لېږدولو ته چمتو کړ او په جادویي ډول یې په هماغه شپه ۷۰ بېړۍ په وچه ولېږدولې او د دښمن د بېړیو او د ښار د ساحل ترمنځ یې ودرولې چې بیزانسي امپراطور او ښاریانو ته دا د هېښتیا ترځنګ دا کار د پیریانو وبرېښېد او په تونلونو کې کار کوونکي انسانان به یې پرښتې بللې په دې ترتیب سلطان محمد هغه ښار فتح کړ چې اروپایانو او د عیسوي نړۍ جنګي پوهانو یې د سقوط تصور هم نه کاوه.

سلطان محمد له بري وروسته ټول دښمنان وبخښل ورته یې وویل چې بشپړه ازادي لرئ، مشران یې ونازول دهغوی درناوی یې وکړ همدې ترحم عیسویان وهڅول چې اسلام ومني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مازيګرى د استانبول مزه کوينه

پنځه نيمې بجې له هوايي ډګر څخه ووتلو ،قونيې ته مو الوت پاو باندې لس بجې وو پرېکړه مو وکړه چې دا څه کم پنځه ساعته وخت به د استانبول په کتلو تېر کړو او لومړى به د سمندرغاړې ته ځو ،له يو ټکسي چلوونکي مو وپوښتل چې د سمندر غاړې ته څو کيلو متره لاره ده او کرايه څو اخلې، هغه وويل چې لار شل کيلو متره او کرايه پنځوس لېرې ده ما چې حساب وکړ له پنځوس ليرو شاوخوا اتلس نيم سوه افغانۍ جوړېدې نو ملګروته مې وويل دوى ته موږ هم خارجيان ښکارو په شل کيلو متره واټن کې اتلس نيم سوه افغانۍ !!

له څو ټکسي چلوونکيو سره مو خبرې وکړې ،په ډېرو چنو مو يو په څلوېښت ليرو چمتو کړ، له موږ سره اند ښښنه وه چې هسې نه بحر نږدې وي او پر دوه درې سړکونو مو تاو راتاو او ښکته مو کړي خو ډېر ور پنځه ويشت کيلو متره لار ووهله کوم لس کيلو متره يې د بحر پر غاړه وګرځولو د کبانو پر لوى بازار يې تېر کړو څو ځايه د سمندر پر غاړه د تفريح ځاى و خو هغه چې زما په خبره يې ماته ګوډه انګليسي زده وه وويل چې تاسې د تفريح مشهور او لوى ځاى ته بيايم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داموټر چلوونکی چیلي نومیده ، لږ لږ په انګلیسي پوهېده ،په یوه ځای کې یې موټر ودراوه د سړک پرغاړه یې یوې نښې ته اشاره وکړه ویل یې دا د اسیا او اروپا زیرو پواینټ (صفري نقطه )ده ،دې خوا اسیا او اخوا اروپا ده موږ هم ور ښکته شو یو پښه مو د اسیا اوبله پښه مو د اروپا پر وچو کېښوده، عکسونه مو واخستل او په یو وخت کې مو په دوه وچو کې ژوند وکړ.

په استانبول کې اسیا او اروپا یو شان دي هوا ،آبادي پرمختګ خو په لویه کې بیا ددې دواړو وچو په پرمختګ کې ډېر توپیر دی.

ډریور د بحر تر څنګ د یو لوی پله پر غاړه موټر ودراوه ،نیم چمن، نیم د لوبو او ساعت تېرۍ، ځای ګرځنده هوټلونه د پله لاندې او بحر له پاسه لوی بازار هوټلونه د سیل او سیاحت کشتۍ لیدل کېدلې ،ډرېور موږ ته وویل چې له دې ځایه کله بېرته ځئ چې زه درپسې راشم؟

موږ ورته اته بجې وخت ورکړ ،زما نورو ملګرو لاترکۍ پیسې ( لیرې) نه وې اخستې خو ماته مې زوی احمد طارق له سفر وړاندې له شهزاده سرای څخه راوړې وې ، د ډرېور کرایه هم ما ورکړه د بېرته راتګ لپاره دیو ځای کېدلو ځای مو ورسره وټاکه ،ټکسي چلوونکی خوش طبع سړی و ماښام اته بجې د بیا لیدلو په هیله مو رخصت کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بحر پر غاړه کښتۍ والا په لاسپیکر کې سیلانیان خپلې کښتۍ ته وربلل فرخنده ور وړاندې شوه د ټکټ پوښتنه یې ترې وکړه یو مسؤول یې وویل چې اته لیرې اخلو موږ ورته وویل چې بحر کې څومره وخت تېروي ویې ویل پوره یو ساعت، پرېکړه مو وکړه چې وروخېژو ،قویم صاحب د څلور واړو پر ځای شل ډالر ورکړل، موږ هم د درې پوړېزې کښتۍ دریم پوړ ته وروختلو ، مخه را ته خلاصه وه څو دقیقې وروسته د کښتۍ درې واړه پوړونه ډک او کښتۍ روانه شوه دلته نو هره دقیقه دا ایجابوي چې انځورونه واخلو د بحر دواړه غاړو ته کورونه ،هوټلونه ،ښکلې او په تکو شنو غونډیو کې لوکسې ودانۍ له یوې خوا د استانبول مازیګری دبحر خوږ او یخ شمال دکښتۍ دریم پوړ ،ښکلې او فطري شاعرانه فضا ،دې فضا ،نه یوازې زه له ځانه بې ځانه کړم بلکې فرخنده او سیمین یې هم له قال څخه د حال ژبې ته بوتللې ،لومړی خو له نورو ترکي انجونو او مېرمنو سره ددوی توپیر ددوی په غاړو کې نری ځادرو خو شمال، شاعرانه وجد او حال دوی هم بې خوده کړې، ځادر مادر ولوېد او انځورونو اخستلو زور واخست. هلته نورې ښکلې هم وې خو زما همسفرې هم له چا کمې نه وې د استانبول د سمندر مازیګری او شمال ددوی په اننګو کې وینه لا وغوړوله او لایې وخوځوله اننګې یې داسې شول تا به ویل په رښتیا هم دلته چا د ګلابو پاڼې پېیلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له يوې خوا يې په اننګو کې ګلابي داني، د شونډو سرخي او له بلې خوا د استانبول پر سمندر مازيګرنی لمر خپور و ، شفق لکه لمر چې همدلته زرين وزرونه راټولوي او يا لکه کائنات چې همدلته د خپلې ښکلا کرشمه ننداري ته وړاندې کوي د مخامخ ناستو انجونو غومبورو او په سمندر کې د مازيګرني لمر زرينو پلوشو د استاد ناګار دا بيت څو څو ځله بې اختياره راباندې تکرار کړ:

را وله حيا په اننګو کې لمبې بلې که

ټيټ سيند ته شفق که په اوبو کې لمبې بلې که

ما ويل لکه ناګار صاحب چې همدا صحنه ليدلې او بيا يې په شعر کې انځور کړېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په نشه کې تېشه

ما د فطرت له دې کرشمو څخه د خوند اخستلو لپاره د خپل بدن د هر غړي بلوتوت پرانستی و چې نا څاپه مې د خيال او خوند دنړۍ ځلی ونړېدا او په نشه کې مې تېشه ووهل شوه ، په يادمې شول چې بيک مې په ټکسي کې رانه هېر او پاتې شوی دی. اوس يې خوند وکړ؟؟ په بيک کې مې دوه نيم زره ډالر، دېرش زره افغانۍ، څو جوړه جامې ، کورتۍ ګانې ،يوه ويديو يي ، يوه کوچنۍ د عکاسۍ کيمره ، يو غږ ثبتوونکی (وايس ريکارډر) يوډېر انتيک لوړ بيه او نوی ماډل کوچنی لپ ټاپ چې په دوحه کې مې په ۴۸۰۰ ريالـه اخستی و ، يو ای پاډ ،د سيمينار لپاره چمتو کړې مقالې ،څو کتابونه ، د سفر له اړتيا وړ نورو توکيو سره ځای پرځای کړي وو ، اوه خدايه دا څه وشول ، د استانبول لوی دوه قاره يي ښار، نه د ټکسي د پلېټ شمېره ، نه د ټکسي چلوونکي د ټېليفون شمېره ،نه ورسره کومه پېژندګلوي ،نه مو ټکسي د ټکسي انفارمېشن يا د ټکسي له رسمي اډې راوستې نه ... بس پر لويه لار مو ورسره خبره وکړه او را روانه مو کړه بيک مې شاته ډاله کې کېښود .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کښتۍ منځ کې سوچونو واخستلم اوس به څه کېږي فرخندې او سیمین ته مې وویل چې بیک رانه په موټر کې هېر شوی او هرڅه پکې دي.

هغوی همدومره وویل: ((وای چرا؟ الی چطور مېشه ))،بس نور نو په خپله ننداره بوختې شوې او کیسه کې مې هم نه وې ،چاره نه وه خپله مې خپل زړه ته ډاډ ورکاوه دومره پیسې راسره جېب کې وې چې یو څه چاره پرې وکړم ،پاسپورت او یو h.t.c موبایل راسره جېب کې و چې د انټرنېټ لپاره هم کارېده لویه اندېښنه مې دا وه چې له جا مو اومقالوسره به څه کوم هلته خو ټوله دریشي او پطلون دی دا جامې خو هر ومرو خېرنېږی دلته افغان ګنډونکي یا نشته اوکه شته زه یې څه پېژنم په ترکیه کې مې ملګري وو خو دهغوی دټیلیفون شمېرې او ادرسونه هم په همدې بیک کې وو که پطلون واغوندم خلک به څه وایي. خیر هغه د ډیل کارنګي په خبرو مې زړه ته ډاډ ورکړ چې که هرڅومره خفګان وکړم له لوښي تويې شوې شیدې نه راپورته کېږي نو ښه ده چې فکر وکړم هېڅ هم ندي شوي. په یوه ساعت کې مې ځان بېرته پاچا کړ پیسی لرې ،پاسپورت لرې، h.t.c فون لري ټولو ښارونو ته دې ټکټ دو طرف ریزرف دی چې جامې دې خیرنې شوې خیر دی د خوب جامې واغونده او هغه هوټل ته د وینځلو لپاره ورکړه ډېر تینګار پرې وکړه چې ژر یې درکړي اوته تر هغې له خونې بهر مه وځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لږ وخت کې مې هرڅه هېر کړل خو سیمین په لیدلو مې دامتل سترګو ته ودرېدربښتیاچې :((پردی غم له واورو سوړ وي ))

ګوره د سیمین او فرخندې زما بکس په یاد هم ندی او پخپلو مزو کې ډوبې دي.

هڅه مې وکړه چې بیک هېر کړم خو دې ته مې هم هیله وه چې چلوونکي خو ژمنه کړې چې اته بجې راځي ،ښایي هغه صادق او مسلمان شخص وي او بیک راوړي که صادق هم نه وی ښایي د موټر په ډاله کې بیک ته یې پام نه وي او راشي کله کله به مې هېر شو خو پرېشاني یې وه.

کښتۍ د استانبول منځ کې سمندر کې روانه ډېره وړاندې لاړه یو هوایي پول مخ ته راغی ډېر لوړ او ډېر ښکلی وو د سمندر اخوا دېخوا یا شمال ـ جنوب کې غونډیو ته ورته پیاوړې پایې لګول شوې او نور پول په قوي کېبلونو تړل شوی وو د پول اوږدوالی به شاوخوا دوه کیلو متره وه خو په همدومره فاصله کې یې پایه یا ستن نه درلوده او پول هوایي ځوړند وو.

وروسته پر همدې پلونو تېر راتېر شو ،څلور سړکونه یې درلودل دوه له یوې خوا او دوه له بلې خوا نور هم وړاندې لاړو همداسې یو بل پول مخ ته راغی کښتۍ له همدې پله سره ببرته را تاوه شوه ورو -- ورو خپل لومړني ځای ته راغلله په سمندر کې څو همداسې سیلاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښتې نورې هم رواني وې ،له کښتې ترښکته کېدلو وروسته تر پله لاندې اود سمندر د پاسه جوړشوي بازارته د ډوډۍ خوړلو لپاره لاړو هلته هم ښکلي کتار هوټلونه وو ،دهر هوټل شاګردانو خلک په پوره مهارت ځانته جذبول، لاره یې نیولې وه موږ د کبانو فرمایش ورکړ ،خو ترڅو چې کبان پخېږي او ډوډۍ تیارېږي باید لمونځ وکړو، د اوداسه د ځای پوښتننه مې وکړه خو د ددې کار لپاره ځانګړی ځای نه و بالاخره د یو هوټل په تشناب کې مې په زحمت اودس وکړ.

له ځو هوټلیانو مې وغوښتل چې که د لمانځه لپاره ځای راکړي خو هغوی بخښنه وغوښتله او د مسجد ادرس یې راکړ ،مسجد د سمندر ترڅنګ د پروت سړک جنوب خواته و او د سړک لاندې لار ورغلې وه د مسجد ترڅنګ پخوانی کلیسا وه پوه نه شوم چې ښاره به وه او که فعاله ،مسجد څه کم څلور سوه کاله پخوا جوړ شوی و، زموږ ملګری محمد حکیم بشارت چې له هند څخه راستون شو نو په پڅواک خبري اژانس کې به یې ما او نعمان دوست ته د یو مسجد د ښکلا چې دده د حیرانتیا لامل شوی و صفت کاوه په صفت کې په وجد راغی ویل یې: ((عجیبه خو داده چې دامسجد څلورسوه کاله پخوا جوړ شوی او هغه هم مسلمانانو جوړ کړی دی)).

دامسجد د ترکي مهندسۍ ډېره ښکلې او نادره نمونه وه همدلته مې دوه رکعته لمونځ وکړ، په مسجد کې ګڼو ښځو هم لمونځ کاوه د سمندر پر غاړه مې چې پخپل درې ساعته ژوند کې د ترکي انجونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازادي، تنګ پتلونونه ،تک سپین لوڅ ورنونه ،څنګلې او په عام بازار کې د یو بل ښکلول ولیدل نو داسې مې و انګېرله چې دلته نو مسلماني ډېره کمزورې شوې خو چې په مسجد کې مې ښځینه مسلمانانې که څه هم شمېره یې کمه وه ولیدلې بېرته ډاډه شوم.دلته ورځ اوږده وه تر اوه نیمو بجو پورې د مازیګر لمونځ کېده.

له ډوډۍ چې فارغ شو پاوکم اته بجې وې، زما خپل بیک ته سودا وه هماغه ځای ته ورغللم چې له ټکسي چلوونکي سره مو ټاکلی و ،زما لا پام نه وو چې هماغه موټر چلوونکي راباندې غږ کړ، .Mr Haji I am here،(ښاغلی حاجي زه دلته یم) په زړه کې خوشحاله شوم خو غوښتل مې خپل خفګان او اند ېښنه له هغه پټه کړم هغه دستي راته وویل چې بیک دی په موټر کې دی ماهم دومره ورته وویل thank you:(مننه).ویې ویل چې ملګري دې چېرې دي ماورته وویل اوس راځي اته بجې شوې خو ملګري مې یو هم نه ښکارېدل مار خوړلی له پړي هم وېرېږي زړه مې نه کېده چې ټکسي پرېږدم او هغوی پسې لاړ شم، خیر له ځان سره مې وویل چې که چېرې دې سړي ستا بیک پټاوه نو بېرته درته ولې راته. له شرمه مې بیک هم ونه غوښت په همدې ډاډ ملګرو پسې لاړم استاد قویم او فرخنده مې وموندل ،سیمین نه وه هغوی ویل چې سیمین له دوی هم ورکه ده په لوی بازار کې ورپسې ګرځو خو هغه نه لیدل کېږي ،دلته ټکسي والا وارخطا دی ما ټکسی والا بوخت کړ کله هغوی پسې ورځم او کله ټکسي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځم، بالاخره هغوی هم پنځه ویشت دقیقې وروسته راغلل او بېرته مو هوايي ډګر ته حرکت وکړ لار دو طرفه وه ددې لپاره چې بېرته هوايي ډګرته لاړشو. نو باید په سمندر تېر شوي پله واوړو. همدا اسې وشول له پله تېر شو لږ نور هم وړاندې لاړو هلته په یوه چوک بېرته خپل لاس ته را واوښتو، په ترکیه کې ترافیک د افغانستان په څېر په ښي لاس دی پر پله ډېر ترافیکي بیروبار و،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انجلۍ د یار په ننداره شوه ...

موږ باید کم ترکمه نهه بجې د اتاترک په نړیوال هوایي ډګر کې وای، خو ترڅو چې بېرته پرپله راتاوېدو او هغه ځای ته را ورسېدو له کوم ځایه مو چې حرکت پیل کړی وو نو پنځلس دقیقې یې ونیولې همدلته شل کم نهه بجې شوې موږ ته نه د کورنیو الوتنو ترمینل معلوم وو نه مو بورډینګ پاسونه اخستي وو او هلته هم باید دافغانستان په څېر مسافر له الوت څخه دوه ساعته وړاندې هوایي ډګر ته لاړ شي لس بجې یا د الوت وخت شېبه په شېبه را لنډېږي او بیرو بار ډېرېږي.

ډېر بور مو پوه کړ چې لس بجې زموږ الوت دی او دی باید وروستی کوښښ وکړي چې وخته مو ورسوي ، له چیلي څخه مې مننه وکړه چې بیک یې راووړ سوچونو واخستلم چې ولې یې بیک راووړ ایا دا ښه مسلمان دی؟ د ترکیې نوم نه بدوي او وطنپاله دی؟ داسې خو هم نده چې په ډاله کې یې بیک ته پام شوی ندی که داسې وای نو ولې یې له مخامخ کېدلو سره دستي راته د بیک د شتون وویل ښایې هغه فکر کړی وي چې موږ یې د موټر د پلېټ نمبر اخستې او پیدا کولی یې شو یا.....

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بيروبار کې ونښتو ټول يو بل ملامتوو چې ولې مو ټکسي ناوخته (اته بجې) را وغوښت ما ته غوسه هم راتلله چې سيمين ولې کوم شل دقيقې ورکه وه موټر د مېږي په پښو روان دی ډرېور ډاډ راکاوه چې دا بيروبار هر ماښام وي خو دکبانو تر بازاره اخوا بيا ختمېږي.

د کبانو بازار ته لا نه وو رسېدلي چې ساعت پاو کم لس بجې وښودې له دې بازاره چې دا هم د سمندر پر غاړه دی اخوا هم بيروبار و نورنو الوت ته له رسېدلو نهيلي شو خفه وو چې قونيې ته به څنګه ځان رسوو ؟ کله کله ځان پورې په کړس کړس وخاندو فرخندې وويل چې له استانبول څخه قونيې ته په موټر کې دولس ساعته لاره ده همدا اوس ټکسي نيسو او روانېږو ځکه چې سباته رسماً پروګرام پرانستل کېږي.

کله به فرخندې پر سيمين او کله به سيمين پرفرخندې ملامتي اچوله خوماورته وويل چې دواړه د سمندر په ننداره شوئ دا ټپه مې ورته ووېلې:

(انجلۍ د يارپه ننداره شوه

دپلارپرتوګ يې په سوباړو وشکونه )

کله مو ويل چې که په نورو هوايي کرښو کې ارجنټ (ضروري) ټکټ ومومو هغه به واخلو ددوی دېته هم اند ښښنه وه چې د ترکش

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوايي کربنې دپروګرام له مخې د دوی بکسونه او بیکونه دلس بجو په الوت کې قونیې ته لیږل کېدل هلته دپروګرام د مسؤولینو لخوا زموږ هرکلي ته مېلمه پالان او موټر راليږل کېدل له موږ يو سره هم د ترکيې سيم کارت نه وو چې په قونيه کې له کورنو سره اړيکه ونيسو او له ستونزې يې خبرو کړو، داړيکو بله مرجع هم نه وه. کله به سړک خلاص و نو چيلي بېچاره به په يو سل او لسو کې هم ته شل باندی لس بجې هوايي ډګر ته ورسېدو د کورنيو الوتنو ځای او ترمينل له بهرنيو بيل او ترمنځ يې سړک دی، چيلي همدلته ښکته دترکيې هوايي کربنې ته ژر ژر لاړو ماموړينو ته موټکټ ورښکاره کړ خو هغوی وويل چې دا الوتکه خو په خپل وخت الوتې او تاسو خپل الوت له لاسه ورکړی دی، خفه شو د يوې غرفې شاته يوه تنکۍ ښکلې پېغلوټه ناسته وه موږ ويل راځئ له همدې سره مشوره وکړو هغې ته مو د اکيسه وکړه دستي يې چيرته زنګ وواهه له ټيليفون وروسته يې له موږ څخه ټکټونه وغوښتل موږ ترې وپوښتل چې څه يې کوي ويې ويل لس باندې دولس بجې بل الوت دی هغې کې مو لېږم له خوشحالۍ نه په جامو کې نه ځايېدو ،وينه راکې وغوړېده، سيمين او فرخندې خوله يو بل څخه لاسونه تاو او يو بل ښه ډېر ښکل کړل او ښه د زړه له اخلاصه يې وخندل بورډينګ پاسونه مو واخستل او له غرفې را ستانه شو، په همدې خوشحالۍ کې وو چې سيمين ناڅاپه وارخطا شوه: ((اوف اوف اين چې شد اين چې شد)) ويل يې پيل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل لامل مو ترې و پوښت ویل یې چې کورتۍ یې د جېبونو له سامان سره ترې په موټر کې پاتې ده په منډه بهر سړک ته ووته کوم لس دقیقې وروسته بېرته تشه راغلله ویل یې ټکسي تللې ده، ښه مو ورپورې وخندل خو ویل یې پیسې یې پکې نه وې ما ورته وویل چې الوت ته کوم یونیم ساعت پاتې دی ځئ چې کوم نږدې بازار وګورو هغوی وویل چې دا شرم او خفګان مو کم دی چې بیا وځو، خوزه وو تلم ټکسي ته مې وویل چې یو ساعت وخت لرم او په بازار کې مې وګرځوه همدا سې وشول چې بېرته راغللم او دالوت ځای مې پیدا کاوه نو څه کم دولس بجې وې لږ نه وم ناست چې الوتکې ته یې د ختلو وویل الوتکه په خپل وخت والوته شل باندی یوه بجه قونیې ته ورسېدو زما بیک خو راسره و خو ملګرو مې چې د قونیې په هوایي ډګرکې د سامان د وتلو پر ګرځنده پلاستیکي پټۍ خپل سامان هرڅومره وکوت څه یې ونه موندل د هوایي ډګر مسؤولینو ته یې د خپل سفر د ځنډ او اوس د سامان د نشتون وویل ټول خلک له ترمینل څخه ووتل ما هم له دوی سره لږه منډه وکړه خو سیمین او فرخنده دومره زړورې وې چې زما مرستې ته یې اړتیا نه وه.له نیم ساعت وروسته څرګنده شوه چې ددوی بکسونه لاهم ندي راغلي، له استانبول سره له اړیکې وروسته ورته وویل شو چې په سباني الوت کې به یې راولېږي خو په دې نیم ساعت کې پر دوی ښه مرګ او دبیکونو ورکېدلو وېره تېره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قونیه

قونیه د ترکیې له ۸۱ ولایاتو څخه تر ټولو لوی ولایت دی چې مرکز یې هم (قونیه) نوم لري قونیه ،داناتولي په برخه کې دی پراخوالی یې ۳۹۰۰۰ زره کیلو متره مربع او نفوس یې په ۲۰۱۱ کې ۳۹۸۰۰۰ تنه دي.

ډېر اوسېدونکي یې کردان دي دا ولایت د اناتولي د نظام نقطه ده.

دا ښار په تاریخ کې د ریکونیون ،ایکویلام، او استاکونا په نوم هم یاد شوی دی،دیاقوت حموي او معجم البلدان په وینا افلاطون هم همدلته ښخ دی.

د تاریخپوهانو په اند په قونیه کې د مدنیت له مهال څخه پخوانۍ ښېې اوس هم شته دي په دې وخت کې نیشولتک ،کالکولیتک او برنزو کلتورونه لیدل شوي دي. لرغونپوهانو په قونیه کې د نیئو لیتک د پیر یا له میلاد څخه (اوه زره کاله پخواني )اثار موندلي دي.

د قونیې تاریخي ځایونه چې ډېریې مور. ولیدل عبارت دي له د مولینا له مزار، اوموزیم،د شمس الدین تبریزي مسجد او مزار، چیني اثار، د شرف الدین مسجد ،پنځه مناره موزیم،علاؤ الدین مسجد ،عزیزیه مسجد ، د سلطان سلیم مسجد ، د لرغون پېژندنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موزیم ، د انتوګرافي موزیم، د قوبون اوغلي موزیم، د یوسف اقاکتابتون ،دمرامرباغونه، سله، کلستترا ،ګوک بورت چاتاله هوبوک، داشرف اوغلی مسجد ، دفاسله مجسمه، دقبادیان آباد ، سرای افلاطون ،سیناري او اف شهر.

زموږ هرکلي ته د لس بجو الوت ته راغلي مېلمه پال لاهم له موټر سره موږ ته ولاړ و له هغه سره په موټر کې سپاره او دقونیې ښار خواته چلتېن ګارډن هوټل ته وخوځېدو د شپې څه باندې دوه بجې وې چې چلتېن ګارډن هوټل ته ورسېدو د هوټل عملیې زموږ بکسونه تر رسپشن پورې ورسول دننه راته څو تنه هرکلي ته ولاړ و داټول زموږ کوربانه و خو لامونه پېژندل یو یې ځان کرستوفر او یوې ځوانې مېرمن ځان کیلي معرفي کړ ،رسپشن یاد هرکلي ځانګې ته مو پاسپورټونه ورکړل هغوی هم موږ ته له پخوا د ریزرف شویو خونو کیلي ګانې (چابیانې) راکړې.

له امریکایي کوربنو سره مو یوه شېبه بنډار وکړ له هغوی سره په چمن کې پر څوکیو کېناستو ، دلته دوه تنه ایرانیان محسن او شغله هم وو پر مېز د شرابو کتار بوتلونه ایښې و موږ ته یې هم ګیلاسونه ډکول خو چې ، ګیلاس یې را وړاندې کړ نو موږ ترې بخښنه وغوښتنه د سحر د ناشتې ځای یا رستورانت او د سحر نی د پیل او پای پروخت یې پوه کړو دوی خپل خُمار ماتاوه موږ ستړي وو د استراحت

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجازه مو تري وغوښته او وموتاکله چې سبا نهه بجې به ټول په ګراونډ یاد هوټل دهرکلي د څانګې ترځنګ راټولېږو.

زما دخونې شمېره ۳۳۴ وه ښېګڼه يې داوه چې دهوټل شمال ته په دريم پوړ کې لومړۍ خونه وه چې کړکۍ به مې پرانيستې نو دقونيې ښکلی ښار به مې ليده.

ستړی وم ويده شوم پر وخت نه پوهېدم خو زه عادت يم چې دسحر لمانځه وخت شي نو اتومات وينښېږم چې کله راويښ وم نو اودس مې وکړ ماويل راځه چې هر وخت وي لمونځ وکړه قبله مې هم نه پېژندله فکر کولو وروسته مې يو خوا وټاکله خوښه و ډېر تو پير پکې نه و.

د اکثرو اسلامي هېوادونو په لويو او عصري هوټلونو کې جای نماز ايښی اود قبلې خوا يې په يوه غشي نښه کړې وي خو دلته نه جای نماز و اونه يې دقبلې خوا په نښه کړې وه.

به سبا يې د هوټل په منيجر پسې ورغللم ورته مې وويل چې دعثماني خلافت په مرکز او مشهور اسلامي هېواد ترکيه کې مو دهوټل يخچالونه او مېنو بارونه له شرابو ډک کړي دي خو په خونه کې مو نه جاينماز شته اونه مو دقبلې خوا معلومه ده ورته مې وويل پر دې هم سر خلاص کړه چې دلته شراب د هر سړي ضرورت نه وي، بلکې ځينې لمونځ هم کوي په ټوکه مې ورته وويل چې ترڅو مو په هره خونه کې جای نماز ايښی نه وي او دقبلې خوا مو په غشو يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکتورونو معلومه کړې نه وي نو زما اعتصاب به جاري وي، هغه چې زما افغاني او کليوالي جامو او تور واسکټ ته وکتل په خندا شو ويل يې همدا نن داکار کوو خو ګوره موږ د هوټل په څمکتلي کې دلمانځه لپاره ځای لرو.

چې هلته ورغللم نو په يوه کوچنۍ عادي خونه کې جاينماز هوار وو نو رنه د اوداسه ځای و نه محراب نه مسجد نه..... خو په هوټل کې هر ډول شراب ښه پرېمانه موندل کېدل آن يو کوچني بوتل عادي کوکاکولا په ۸ ليرو خو يو بوتل شراب په ۲ ليرو و.

له لمانځه وروسته ببرته ويده شوم دمبايل زنګ مې اتو بجو ته برابر کړ ،له ويښېدلو وروسته د لمبلو لپاره تشناب ته ننوتلم دتشناب سېستم ډېر عصري وو د اوبودتودوخې دمعلومولو لپاره په شيشه کې ستن نصب وه دانو ستا خوښه وه چې اوبه څومره ګرمې کاروې؟ خوزه پردې نه پوهېدم چې اوبه څنګه معتدلې او کارولو ته چمتو کړم خير پرتوکمو مې لاس وهل پيل کړل اخوا تاو کړه دېخوا تاو کړه اخر مې چل زده کړ هلته داسې نده چې ديخو اوبو ځانته او دګرمو اوبو ځانته نل وی او دواړه تاو راتاو او معتدلې اوبه برابرې کړه هلته به ورته ليکل کوې او درجه به په ليکلو ټاکې اوبيا به کمانډ ورکوی.

د استنجا لپاره نه کوم پايپ (نل) وو اونه کومه لوټکه (کوزه) حيران وم چې داخلک دلته څنګه استنجا کوي کله خومې ويل دوی به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښايي پر کاغذ اکتفا کوي او يا به ژر ژر لامبي ، خير ځانته مې قناعت ور کولی ونشو اخوا د ېخوا مې کتل او لاس وهل مې پيل کړل ترڅو مې وليدل چې هلته نه نل، نه لوټکې او نه لاس ته اړتيا شته ده ،بلکې د ننه په کمود کې اسان او برېالی سستم نصب دی او د ېوې توکمې په وهلو درته خپله استنجا کوي.

له لمبلو وروسته مې د هرکلي او معلوماتو ځانګې ته فون وکړ چې جامې راته اوتو کړي درې دقيقې وروست يوه انجلۍ راغلله جامې مې ورکړې او ورته مې وويل چې شل دقيقې وروسته مې پکار دي هغې په اشاره پوه کړم چې له يو ساعت وړاندې يې راوړلی نشي، اوکه ژر مې پکار وي نو خونه کې اوتو او قاتکې مېز شته دی ماهم ورسره ومنله ورته مې وويل دادوه جوړه ته اوتو کړه او زه به ژر دلته بله جوړه اتو کړم ،ايله ايله مې نهه بجې ځان ښکته کېدلو ته برابر کړ.

چې لاندې لاړم درې تنه ملګري مې راغلي وو له هغوی سره ستړي مشي هم څو دقيقې وخت ونيوه څه باندې نهه بجې چې رستورانټ (خوړنځي) ته لاړم خو وخت پوره او رستورانټ تړلی و، وږی تږی راتاو شوم په کانټين کې مې يو جوس واخست خو بيه يې د جوس ترڅنګ د شرابو له ايښې بوتل څخه لوړه وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هیچ مولینا نشد مولای روم

پاو باندې نهه بجې د سفر ۱۸تنه مېلمانه او درې تنه کوربانه په یو کاسټر او مرسدیز موټر کې د حضرت مولنای روم روضې ته روان شو.

روضه له هوټل سره ډېره نږدې ښایي یو کیلو متره، کې وه خو موږ نابلده و.

له روانېدو وړاندې د سفر ټول ملګري یوبل ته معرفي شو موږ د یوبل سوانح مخکې هم لوستې وې ځکه د سفر کوربنو پرې ډېره خواري کړې وه او ټولو ته یې لېږلې وه خو اسم مو له مسمی سره نه پېژنده.

د حضرت مولنا جلالدین بلخي رومي د مزار په دروازه کې ډېر بیر وبار و، په دروازه کې ننوتلو زحمت او حوصله غوښته زموږ کور بنو موږ ته ټکټونه واخستل ،تالاشي عامه ،سخته او کمپیوټري وه. د مولنا د مزار محوطه پراخه اولوی کمپلکس دی ، پراخه له ګلونو ډک چمن او سرکونه لري ،چې ورننوځې نو ښي خواته دې د یوې نږېدلې ودانۍ پر پاتې شونو چې اوس یې ایله یو متر بنسټونه پاتې دي سترګې لګېږي.دا هغه کور دی چې د مولنا پلار مولنا محمد بن حُسین خطیبي د کرمان له ښار تر راستنېدلو وروسته جوړ کړ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند تر پایه پکې اوسېده. مولنا هم د ځوانۍ شېبې همدلته تېرې کړې دې. په دې ځای کې د کور نقشه لا هم پر ځای ده، کوټې، تشناب ......هر څه پېژندل کېږي.کور بنو راته دا کور ښه تشریح کړ. له دې ځایه مزار ته ور روان شو خو ټېل ما ټېل او بیرو بار زیات دی. مزار او موزیم بیا د دې محوطې دننه په بله محوطه کې پراته دي او مزار بیا ځانته ودانۍ او دوه دروازې لري. په دې توګه باید تر مزاره له څلورو دروازو ورتېر شې. د زیارت کوونکو ډېره برخه ښځې او نجونې وې. د مزار خونې ته له ننوتلو وړاندې د لومړۍ دروازی تر څنګ په لویو لویو ظروفو کې هغه پلاستیکونه پراته دي چې د بوټانو له پاسه اغوستل کېږي او د همدې غرض لپاره جوړ شوي. د همدې لومړۍ دروازې تر څنګ د اوداسه ځای مو د بیا راټولېدلو لپاره وټاکه. پلاستیکونه مو د بوټانو له پاسه واغوستل او ننوتلو. له دروازې دننه ښي خواته د مولنا د طریقې سمبول خو پګړۍ ایښې وې ورسره جوخت بله دروازه وه، له هغې چې ننوتلو نو شاوخوا ټول لوی او واړه قبرونه و ،دا ټول په یوه نقشه ،. شین رنګ ورکړل شوی او شنې پردې پرې غوړېدلې وې. دمولناله مور پرته د هغه ټوله کورنۍ همدلته دفن ده .مور ته مخکې ویل شوي وو چې دلته کېمرې راوړل او عکاسي منع ده. خو موږ له ځانه سره وړې وې ، هلته مو عکاسي پیل کړه خو چې د مولنا د قبر عکس مو واخست نو پولیسو مخالفت کاوه خو بیر وبار ډېر وو په پټه او ښکاره عکاسي کېده ما هم ترې څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

انځورونه واخستل. دننه محوطه کې چپ لاس ته د مثنوي معنوي او بل ځای کې د قران عظیم الشان د خطي نویو او زړو نسخو نندارتون وو، د بیرو بار له امله چاته د کتلو نوبت په اسانۍ نه ورته، یا به یې له کتلو تېرېدې او یابه دې له نجونو او ښځو سره ځان مښل منل. پولیس هم د نظم په مخنیوي کې ناکام وو خو ما ټول ولیدل او انځورونه مې ترې واخیستل. د ودانۍ دواړه دروازې د لرګي او په پخوانۍ بڼه جوړې شوې دي. له دې ځایه چې ووتلم نو د وعدې ځای ته ورغللم هلته له یو دوو تنو پرته څوک نه وو، شاوخوا په کوم شل پنځه ویشت خونو کې د مولنا موزیم جوړ شوی دی، د هغه جامې ،بوټان ،پګړۍ ،د تصوف مجلس مریدان، په هر حالت کې د ذکر بڼه، د هغه وخت کارېدونکې توکي .....ددې ټولو لیدلو او انځور وېستلو رانه ډېر وخت ونیوه یو دوه ځله د وعدې ځای ته راغللم خو ملګري مې ټول نه وو راغلي بېرته لاړم د موزیم پاتې برخې مې هم وکتلې،د هغې ځوانیمرګې شاعرې شهزادګۍ قبر مې هم ولید چې څه باندې اته سوه کاله پخوا وفات شوې. ددې شهزادګۍ او زمونږ د بلخي رابعې بر خلیک سره ورته وه. د عاطفي او جذباتو سمندر مې طوفاني شو. زمونږ شهزادګۍ (رابعه)خو یې ورور په حمام کې ووژله او په خپلو وینو یې د حمام دیوالونه په شعرونو سره کړي وو. خو نه پوهېږم چې ترکۍ شهزادګۍ چا ووژله او بکتاش یې څوک وو .کله چې د وعدې ځای ته راغللم نو یو ملګری مې هم نه وو. فکر مې وکړ چې هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

رانه بهر تللي دي، اخوا د بخوا مې ډېر ولټول خو نه وو. بهر راووتلم هلته هم نه وو ، هغه موټر مې هم سم نه پېژنده او نه په هغه ځای کې ولاړ وو چې موږ يې راوستي وو. ټيليفون هم راسره نه وو چې له چا سره په اړيکه کې شم خفه او حيران وم .د بته خفه نه وم چې ځای به پيدا نکړم ،ځکه هرې ټکسي اړوند هوټل ته ببولی شوم خفه د بته وم چې ټول ملګري به راپسې ګرځي .او يابه ورته نا منظم او نا همغږی ښکاره شم. د مولنا مزار او پارک دوه دروازی لري لوېديځه يې چې دننوتلو ده قوي کمپيوټري تالاشي هم په کې کېږي او بله سويلي ياد وتلو دروازه ده .دوه درې ځله دې او هغې دروازې ته ولاړم. لوېديځې دروازې ته مخامخ د قونيې ښارترټولو لويه هديره ده چې احاطه ترې تاوه وه .قبرونه يې په يوه نقشه منظم ، پر ونوپوښلي او سرکونه پکې غځېدلي وو. زه دې هديرې ته ورغللم انځورونه مې ترې واخيستل ،ببرته راغللم سويلي دروازې ته مخامخ رستورانت ته ورننوتم کافي مې راوغوښته ،يوه کوچنۍ پياله چې ايله دوه غړپه کېدله په درې لېرې يا شاخوا سل افغانۍ وه .ببرته بهر راووتللم دلته د مريو انتيک غاړکۍ ،تسبې،د مولنا له قېمتي کاڼو اوغميو جوړې مجسمې خرڅېدلې دلته مې شيان کتل چې کيلي رابانديې غږ کړ ،ګورم چې ډېر ملګري مې همدلته دي چې ورغللم نو پوه شوم چې له ما پرته دوه درې ملګري لا هم نادرکه دي .خير دولس نيمې بجې ټول پوره او پلي د زاړه بازار کتلو ته ور روان شو. د قونيې زوړ بازار د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولنا مزار ته نږدې دی دلته مو یو تاریخي مسجد چې څلور نیم سوه کاله پخوا جوړ شوی وو ولید. ما د بیو د معلومولو لپاره په دو کانونو کې ډېر شیان بیه کړل خو نرخونه ډېر لوړ وو مثلاً یو ګرام عربي سره زر په (۸۴ )لیرې و چې څه کم ۲۹۰۰ افغانۍ کېدلې په داسې حال کې چې په همدې وخت کې په افغانستان کې همدا زر یو ګرام په ۲۲۰۰ افغانۍ و .

یو موچې مو ولید خو د افغانستان تر موچیانو ډېر عصري وو یوه ښه چوکۍ یې ځانته ایښې او بله یې مراجعینو ته بکس یې هم لوکس او د موچیتوب لپاره جوړ شوی وو. یوه جوړه بوټان یې په دوه نیم لیرو یا ۸۵ افغانیو رنګول. تر څه کم دوه بجو د قونیې په زاړه بازار کې چې اوس ډېر عصري او د لوړپوړیزو ودانیو لرونکی دی وګرځېدو قونیه هم پراخه سړکونه لري او ښکلې او پاک ښار دی.کوربنو موټر هملته بازار ته راوغوښتل او هوټل ته روان شو. له مهال وېش سره سم زمونږ ننني غرمه پر کوربنو وه او باید له دولس نیمو تر یوې نیمې مو خوړلې وای خو موږ څه کم دوه بجې هوټل ته راورسېدو. لومړی خپلو خونو ته لاړو او و مو ټاکله چې دوه بجې به ټول راځو او ډوډۍ به یو ځای خورو .په لومړي پوړ یا ګراونډ (میدان ) کې ښکلی د سیمینار سالون وو هملته مو خوندوره ترکۍ ډوډۍ چې سوپ ،کباب ،وریجې ،قورمه ،فیرني ،سلاد او مشروبات پکې وو وخوړه د مهالوېش له مخې مو باید یوه نیمه بجه د مولنا په اړه خپلمنځي بحث پیل کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وای خو سم عملي نه شو ،شاوخوا درې بجې مو بحث پیل کړ ،د بحث ژبه ډېره انګلیسی وه خو فارسي هم پکې وه بحث تر شپږو بجو اوږد شو. په دې بحث کې د مولنا پر ژوند او فن بحث وشو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صوفیانه رقص او سماع

له بحث وروسته یو ساعت دمه وه او اوه بجې مو باید د ماښام ډوډۍ په خپل لګښت خوړلې وای او پاوباندی اوه بجې د مولنا کلتوري مرکز ته د سماع او صوفیانه رقص د لیدلو لپاره تللي وای .خو موږ ماړه وو .ومو پتېیله چې له پروګرام څخه تر راستنېدلو وروسته ډوډۍ وخورو. پاوباندې اوه بجې چې لابي یا د هوټل د هر کلي د څانګې خواته راغللو نو ملګري مو کم راغلي وو ما د لمانځه د ځای پوښتنه وکړه .د هوټل ځمکتلي ته یې لاس ونیوه هلته دوه خونې یوه د نارینه او بله د ښځینه وو د لمانځه لپاره بېلې شوې وې .له لمانځه چې راغللم خبر شوم چې پروګرام بدل شوی او موږ باید اته نیمې بجې د مولنا کلتوري مرکز ته روان شو .دا ځکه چې هلته د ذکر او سماع پروګرام نهه بجې پیلېده .موږ ګومان کاوه چې د مولنا کلتوري مرکز به له هوټل څخه لېرې وي او په موټر کې به ورځو. خو دا مرکز د هوټل په شاوخوا سل متری کې و او د دواړو پارکونه سره نښتي وو. د مولنا کلتوري مرکز ډېر ښکلی او ډېر لوړ جوړ شوی دی ګنبدې بڼه لري او ډېر لوی او ګران بیه قندیل پکې ځوړند دی. په یو وخت کې شاوخوا پنځو زرو تنو لپاره ځوکۍ لري .هلته هر څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمپیوټري تالاشي کېده. موږ چې ورغللو نو نږدې څوکۍ ټولې ډکې وې خو زموږ لپاره په منځ او ښه ځای کې څوکۍ ریزرف شوې وې .موږ ته لا د مخه په مهالوېش کې ویل شوي وو چې دلته عکاسي او د کیمرو وړل منع دي خو ما او ځینو نورو له ځانه سره کیمرې وړې وې .لومړی مو په پټه عکاسي کوله خو ومو لیدل چې دا منع ډېره جدي نده، بیا مو د کیمرو فلشونه هم خلاص کړل ،څوکۍ ټولې ډکې شوې ان ځینې ولاړ پاتې شول نهه بجې څوارلس تنه ستیج ته راغلل ،څوک د ارمونیې ،څوک د رباب ،څوک د ډول ،څوک د بینجو ،څوک د سیتار شاته کېناستل .یو ځوان راغی په ترکي ژبه یې ډېره احساساتي وینا وکړه چې څو ځله د ګډونوالو په تودو چکچکو بدرګه شو .ورپسې هال ته ۴۰ تنه ښکلي ځوانان چې د مولنا په تقلید شنې پګړۍ یې تړلې وې .د ترکانو ځانګړې ورېښمیو ته ورته چپنې او سپینو ته ورته زېړچکې اوږدې جامې یې پر تن وې دننه هال ته راغلل او د هال ښي خواته لکه د لمانځه قعده په یو صف کې کېناستل څو شېبې وروسته د مولنای روم د طریقې سجاده نشین او ددوی پیر په داسې حال کې هال ته راننووت چې چکچکو هال لړځاوه او دا ځلوېښت تنه او هغه نور ۱۴ تنه ټول ورته لاس په سینه ودرېدل .ددې سړي مخ ته رڼا روانه وه .خو هېڅ نه لیدل کېده چې دا رڼا له کومه رالوېدلې .دوی خلکو ته دا تاثر ورکاوه چې ګویا دا رڼا او دا نور له همده سره تړلي دي ځکه یې هېڅ مدرک نه ښکاربده ،دې شخص چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چپن او پګړۍ یې د هغو نورو په رنګ خو د جامو رنګ یې بدل و دومره لنډه ږیره یې درلوده چې ایله د ګوتو په څوکو کې نیول کېده .لږ وروسته همدې ته ورته یو بل تن هم هال ته راغی خو ښکارېده چې د هغه رتبه له ده ټیټه وه دا دواړه په ټول هال کې وګرځېدل وروسته په ځانګړي طرز سره اذکار پیل شول. دا ځلو ښځت تنه لومړی په ناستې خوځېدل وروسته یې چپنې ځای پر ځای کېښودې او پاڅېدل لومړی هر یو له یوې مخې په ترتیب په ځانګړي انداز ورو ورو روان شول او چې د پیر څنګ ته به ورسېدل نو ښي خواته به تاواوپه نڅابه شو .
همدا ډول ۴۰واړه په نڅا شول عجیبه ده هر یو به کوم ۴۰-۴۵ دقیقې په همدې یو اړخ تاوېده چې نه به یې سر ګرځېده ،او نه به لوېده او نه به یې په حرکاتو کې کوم بدلون لیدل کېده.لکه په کمپیوټر یې چې تاووي.له ۴۰-۴۵ دقیقو نڅا وروسته ټول د خپلو چپنو خواته یو یو راغلل ،ودرېدل بیا په بل ترتیب همدې پیر ته چې خپل ځای یې بدل کړی وو په داسې حال کې چې لاسونه یې د سینې له پاسه د اهل حدیثو په څېر تړلي وو راتلل دده لاسونه به یې ښکل کړل او بیا به ښي خواته تاوشو اوتر ۴۰-۴۵ دقیقو پورې به یې په همدې یو اړخ موسیقۍ ته تاوېدل بالاخره څه باندې یوولس بجې اوږده دعا وشوه ،د هال څراغونه ولګېدل او پروګرام پای ته ورسېده .ما یې کوم پینځلس دقیقې ویډیویي عکاسي هم وکړه .هال یا سالون بهرنۍ برخه او ځمکتلی هم درلود ،دلته د مولنا عکسونه ،د مولنا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

انځورونو جوړ کیلي بندونه ،قلمونه ،میناتوري او ډول ډول شیان د ښځینه او نارینه پلورونکیو لخوا پلورل کېدل. له دې ځایه شا وخوا یوولس نیمې بجې خپل هوټل ته لاړو ،خوهلته رستورانټ بند وو خو په نورو خونو کې چې مېز او څوکۍ پکې پرتې وې په نقده بیه ډوډۍ ورکول کېده ما یو ډول کباب خوښ کړ رایې وړ دا ډول کباب ما په تهران او اصفهان کې هم خوړلی وو . کله چې یې د ډوډۍ بېل راوړ نو نرخ یې ډېر لوړ آن هغه یوه قوتۍ پېپسي چې په کابل کې په شل افغانۍ ده هلته یې را باندې اته لېري شا وخوا درې سوه افغانۍ حساب کړې وه .زموږ سهار چای په هوټل وو چې سستم یې بوفه وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قره مان که قهرمان؟

له مهال وېش سره سم د مې پر پنځمه سهار پاو باندی نهه بجې لابي ته راغللو او له دې ځایه په یوه کاستر او یوه مرسډیز ته ورته موټر کې د قره مان خواته چې د قونیې جنوب ته په او یا میله (۱۱۵ کیلو متره )کې پروت ښار دی روا ن شو. قره مان د یونان د امپراطور قره مان بیک نوم ته منسوب د هغه د زېږېدو ځای دی چې دا مهال لوی ښار دی. قره مان بېک دلته حاکم هم و. دې ښار ته ځکه ورغللو چې د مولنا کورنۍ قونیې ته له ورتللو وړاندې همدلته اوسېده. دې ښار ته لارنده هم وايي.

له ښار څخه بهر دواړه خوا لار ،غاټولو ، د سنځلو او ،چلغوزیو ونو پوښلې کوچنۍ غونډۍ او دښتې هم شته خو تکې شنې. ټوله کرونده د نلونو په واسطه خړوبېږي، د نلونو په واسطه د کروندې خړوبول اسانه هم دي او اوبه هم نه ضایع کېږي. د لارو د سرځینو دوکاندارانو د افغان دوکاندارانو په څېر خپل ځینې توکي د سړک پر سر پلې لار ته راوېستي دي.

پر لار یو کوچنی بازار هم مخ ته راغی. پر لار څو ځایه کرنیز فارمونه او قوریې هم لیدل کېدې. قره مان د توروس غره شمال ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقع او د قره مان ولایت مرکز دی. په ۲۰۰۰ زېږدیز کال د دې ښار وګړي ۲۴۳، ۲۱۰ تنه او مساحت یې ۸۸۱۲ کیلو متره مربع دی خو د نفوس شمېره یې اوس لوړه ده. قره مان بیک تر ۱۴۸۲ زېږدیز کال دلته حاکم وو او تر اوسه یې هم کور شته خو داسې ښکاري چې ترمیم شوی وي، ځکه پخوانی زوړ والی ورته په هماغه پخوانۍ بڼه ندی پاتې. د مولنا جلال الدین محمد بلخی زوی سلطان ولد هم همدلته زېږیدلی دی. قره مان تاریخی ښار او قره مان بیک هم زړور او فاتح پاچاو، نه پوهېږم چې د فارسي لغت د قهرمان به له قره مان سره څه تړا و ولري او که نه دا مهال یې د قره مان نفوس او نیم لکه تنه راوښود، نه پوهېږم چې څومره به دقیق وي. په قره مان کې د وتلي شاعر یونس امرا زیارت ته ورغللو زموږ د کوربنو په وینا، یونس امرا د مولنا د کچې شاعر و چې په دیارلسمې زېږدېزې پېړۍ کې یې ژوند کاوه یونس امرا نالوستی شاعر وو او خپل شعرونه به یې په خپله حافظه کې ساتل. اوس د هغه دیوان انګلیسي ته هم ژباړل شوی دی. د هغه د مزار تر څنګ په ۱۳۴۹ زېږدیز کال یو ښکلی مسجد هم جوړ شوی چې اوس هم په هماغې پخوانۍ بڼه پاتې دی. په دې ښار کې په یوه کوڅه کې جوړو شویو کلیسا او مسجد ته هم ورغللو دا کلیسا چې پر چت یې د جوړې ظریفې میناتورۍ ځینې انځورونه اوس هم ښکاربېدل په ۲ مه زېږدیزې پېړۍ کې جوړه شوې وه. په دې کلیسا کې مو په ولاړه یوه مشاعره هم وکړه، ناقوس یې هم ځوړند وو خو هیڅا ونه شرنګاوه ان

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ ملګرو عیسایانو هم .دا مهال په قره مان کې عیسویان نشته ډېره برخه یې یونان او نورو هېوادونو ته تللي دي .دیوې متمدنې ،او متوسطې ترکي کورنۍ نمونه مو هم ولیده .دا کورنۍ په یو دوه پوړیزه کور کې اوسېده .ددې کورنۍ د ځوانانو ،پېغلو ، زړو ښځو ، کوچنیانو او سپین ږیرو نارینه وو مجسمې له پلاستیک څخه ښکلې او په ډېر ظرافت او مهارت جوړې شوې وې، د کورنۍ لوښي، فرش او نور د اړتیا وړ مواد پکې ایښودل شوي وو ، ددوی د ورځنیو بوختیاوو نمونې آن د موسیقۍ وسایل هم و. په یوه خونه کې په غالیو کېناستو دمه مو وکړه، وروسته په ټولو خونو وګرځېدو او انفرادي او ډله ییز انځورونه مو واخستل .ترې وو بهر په یو منګي ته ورته ترموز کې سرې او به ایښې وې او یو ځل مصرف ګیلاسونه یې تر څنګ ایښي وو ، دلته مو تنده خړوبه کړه . د قره مان په بازار کې ګرځېدو چې د یو مارکېټ په دوهم پوړ کې د سړک غاړې ته د یو شیشه یي دېوال ترڅنګ ولاړې لوڅې لېړې انجلۍ حیران او وارخطا کړم ،مخ مې ورواړاوه ژر مې سیمین ته وویل دا وګوره ،دا ولې؟ هغه هم حیرانه او په خندا شوه ،(به به به ) یې ډېر وویل خو دا انجلۍ نه خوځېدله او ځای پر ځای ولاړه وه. همدې نه خوځېدلو شکمن کړم د کنجکاوۍ حس مې راوپارېده نېږدې ورغلم ګورم چې انجلۍ نه، بلکې په مهارت او پوره استادۍ ولاړه ښکلې مجسمه ده خو لوڅې انجلۍ سره یې هېڅ توپیر نه و او ټول ښځینه غړي یې پوره او جوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاربدل. په موټرو کې را سپاره شو  د قره مان ښآر په څنډه کې د کروندې په منځ کې د لوی سړک په غاړه یو انتیک او منظره لرونکي ترکي هوټل ته د غرمنۍ لپاره ورتاو شو. د هر چا لګښت پر ځان وو.هر چا په خپل طبیعت فرمایش ورکړ.زما په شمول ډېرو ترکي (مینو )نه پېژنده خو څه مو چې راغوښتي وو خوندور وو.له پېپسي، چکني ،سلاد سره یې له هر نفر څخه ۲۵لېرې واخستې.خواړه یې د پیسو په پرتله ډېر خوندور و.

یو کار مې په ترکیه کې خوښ شو ،هغه دا چې هلته دا نرخونه د ټولو لپاره یو دي د ترکي او پردي تو پیر نشته.کوم څه چې ترکي ته سل لېرې بیه کوي هغه پردي یا له بهر څخه راغلي مسافر ته هم په سل لېرې بیه کوي. که څه هم په ترکیه کې چنې یا بارګیننګ شته خو په لویو مغازو کې نرخونه فکس یا قطعي دي او دا نرخونه د ټولو لپاره یو وي ،په مغازو کې پر توکیو نرخونه لیکل شوي وي.په افغانستان ،سعودي،دوبۍ ،پاکستان ،هندوستان ،او ایران کې خو له بهرنیانو پوستکي وباسي او د لسو شی ورته په دوسوه بیه کوي.د دوبۍ او سعودي لویې مغازې خو بیا هم ښې دي ددې نورو هېوادونو لویې مغازې هم د لسو شی په سلو وایي ان لیکلي بیې یې هم قطعي ندي چې لږه جګړه ورسره وکړې د سلو شی په ۵۰ درکوي.په ډهلي کې خو دوکانداران د لاسپیکر له لارې د (ایک بات او نو بارګیننګ)چیغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهي خو چې يو پېرونکی ترې ګرځي نو بيا ورته چيغه کړي چې ښه ته خپل نرخ وو ايه ډ ېسکونټ (تخفيف ) درسره کوم.

تخفيف يې هم بيا سم نيمايې وي په ډهلي کې يې پر يو آيفون تېليفون نرخ څلوېښت زره هندۍ کلداري ( دهغه مهال څه باندې اته سوه ډالره ) ليکلي وو خو چې ما ورسره جګړې پيل کړې نو په دوه سوه ډالره مې ترې وپېره، د ډهلي د کرول باغ د بازار په غفار مارکېټ کې ، مېشت يو افغان سپک راسره ګرمه ستړې مشي وکړه راته يې وويل وبخښه ته محمد حسن حقيار نه يې ؟

ماته دا پوښتنه هېښوونکې نه وه ځکه په ډېرو نورو ځايونو کې هم راباندې همدا ډول غږ شوی وو خو دالومړی ځل وو چې يو سيک هغه هم په ډهلي کې راباندې غږ کوي هغه وويل چې افغان يم نوم مې (ارميت سنګ ) دی او شل کاله وړاندې د تنظيمي جګړو له لاسه له خپلې کورنۍ سره ډهلي ته را مهاجر شوی يم ، دارميت سنګ په وينا ، د کابل ښار په زړه( پروان کارته ) کې يې لوکس او لوی کور دی همدلته لوی دوکان او په خوست کې يې ډېره ځمکه درلوده خو مجاهد ډوله ټوپکيانو ترې هرڅه واخستل، ارميت زما په ليدلو ډېر خوښ شو خپل کوچني دوکان ته يې بوتللم مېرمن ته مې يې پنا ځای برابر کړ راته يې وويل چې په خپل افغانيت وياړي، اوس هم له افغانستان سره مينه لري ،افغاني چينلونه ويني او زه يې هم په افغاني تلوېزيونو کې ليدلی او دحق پر ويلو خوښ کړی يم ، راته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل چې پوهېږم د افغانستان مسلمانان ددوی له لاسه خواړه نه خوري خو زه به تاسو ته تازه مېوه را وړم خو دا چې ماته د خپلې مېرمن طبیعت معلوم وو نو منع مې کړ.

ارمیت سنګ راته د هند د بازار د نرخونو عمومي طبیعت تشریح کړ دده دې تشریح د ممبیې په شمول د هند په هغو نهو ښارونو کې چې ما ولیدل راته ډېره ګټه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګل مې په لاس درته ولاړيم....

دقـونيې د ښـآر د ځنـډې داهوټـل ډېـر پـاک وو ښـه تشـنابونه او کوچنی مسجد يې درلود د سړک بلې غاړې ته باغ او پټې وو د سړک لمن غاټولو تکه سره اړولې وه، ما د تور غونډۍ ،د سروبي د سرچينو ، مـزار او آن د پاکسـتان پـه ځـو پـارکونو کـې غـاټول ليـدلي وو خـو دومره غټه پاڼه مې يې هېڅېرې هم نه وه ليدلې. پـه را شـکولو کـې يې زړ نـازړه وم لـه يـوې خـوا مـې خوښـېدل چـې ويـې شـکوم او لـه نـورو بانجانې، ګلابي او شنو ګلانـو سره يـو ځـای تـرې غنچـه جـوړه کـړم او دکورتۍ په پآس جېب کې يې کېږدم لـه بلې خـوا وېرېدم چـې د نـړۍ د هر ګوټ دا اوسېدونکې بـه خانـدي چـې افغانـان د ګلانـو دښمنان دي او په بوټي کې هم ګـل نـه پرېږدي ،دې انـدروني کشـمکش او جذب او دفعې ځو شېبې دوام وکړ بالاخره له دې ګلانو تش لاس تلل مـې ونشـو زغملي او له رنګارنګ ګلانو مې چې غـاټول پکـې ډېـر وو يـوه غنچـه جوړه او له ځان سره واخسته کله چـې لـه سـړک څخـه ببرتـه هوټـل تـه را وګرځېـدم او د هوټـل پـه برنـډه کـې ناسـتو زمـا ملګـرو او نـورو سيلانيآنو وليدم نو لـو مړی ځـو تنـه راغلـل يـواځې زمـا او لـه ماسره د ګېډۍ انځورونه يې واخستل او وورسته تقريباً ټول راغلـل هغـوی هـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ي لـه ماسـره يـوائې يـوائې او لـه ماسـره ګـډ ډلـه ييـز انځورونـه واخسـتل. زمـا سـپينې جامې او تـور واسکټ د پتلونونـو او دريشـيو تـرمنځ نـوی شـی بربښـېده او ترکـانو ، اروپايـانو ، امريکايـانو ... ډېـر خوښول ،څوتنو راته وويل چې ته په رښتيا هم شـاعر يـې ځکـه چې لـه طبيعـت او ګلانـو سـره دې مينـه ده يـو تـن لـه ماسـره ګـډ څـو انځـوره واخستل ويل يې چې دا ډول جامې يې پـه ټلوېزيـون کې ډېرې ليـدلي دي خـو دهغـه بـاور دا و چـې ګونـدې دا جـامې بـه دهنـديانو يـا پاکستانيانو وي ، دا غنچه مې قونيې ته هم يووړه او هلته مې هم دوه ورځې له اوبوډک ګيلاس کې ايښې وه لـه انځورونـو چې فـارغ شـو نـو استاد قويم راته وويل( تو زود بيا که او دختر... را بريت نشان بتم تـو ببين که او ده قات ګلها بايک ادم ترکی چې بی حجاب و با چـی مـود عشـقی ششـته اسـت ) مـوږ دواړه پـه ناګهانـه حـال کې دهغـوی خواتـه ورغللو و مـو ليـد ل چې سـيمين پـه چمـن کې پـه داسې حـال کې چې دواړه پښې يې غځولي او تر زنګنونو لوڅې وي او وېښته يې پـر اوږو را ځړولي وو له ترکي سره راز ونياز کوي کله کله وخاندي او پـر هغـه د مينې وار کوي دې حالت ماته هم زور راکړ خو په تُرکي چاپېريـال کې مو څه نشول کولی.

قضا ماسپښين له قره مان څخه روان او مازيګر قونيې تـه ورسـېدو بيا مو هم د نورو ورځو په څېر پر مولنا او دهغه پر فن هر اړخيز يـونيم ساعته بحث وکړ دهوټل ډوډۍ هم ډېره قيمتـه وه او مـوږ ويـل چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قونیې ښار به هم په خپل طبیعت وګورو نو ما او استاد قویم وټاکله چې ما سخوتن به ډوډۍ ته بهر ځو زه په ټاکلي وخت لا بې ته راښکته شوم ، استاد قویم له ما مخکې راښکته شوی و او د مار په څېر نا ارامه اخوا د پخوا ګرځېده ما ترې وپوښتل چې سیمین او فرخنده نه دي رغلي؟ ما لا پوښتنه نه وه پوره کړې چې ده شکایت پیل کړ ( والله حیثیت ماره به زمین زد ، تمام افغانا را شرماند او دختر خو کی امو ترکی رفت خدا خبر کجا بردش ) زه هم خفه شوم راته یې وویل څه چې زه او ته دوه په دوه لاړ شو پلي د مولنای روم د مزار له لارې بازار ته روان شو په یو هوټل کې مو د چوپان کباب ته ورته کباب او وریجو فرمایش ورکړ له سوپ ، سلاد ، چکني او پېپسي سره یې د هر تن په سر رانه ۲۰ لیرې واخستې داشپه د قونیې هوا ډېره خوږه وه تر ډېره په بازار کې وګرځېدو ، څه سودا مو هم وکړه خو مهمه موخه مو دنرخونو معلومول و. یوې لویې مغازې ته ننوتلو د اوړو او غوړیو په شمول د ژوند د اړتیا وړ ټول شیان پکې موندل کېدل، په یو کونج کې یې تازه سابه او تازه میوې هم په یخچالونو کې او هم په پلاستیکونو کې تیاربند ایښې وو.

خراب کېفیته منې په دوه او ښې منې په اته لیرې ،خرابې کېلې په یوه او ښې کیلې په پنځه لیرې ،ښه انګور کیلو په لس لیرې هغه بسکېټ چې په کابل کې شل افغانۍ بیه لري هلته په دوه لیرې (۷۴ افغانۍ )و موږ له ځان سره کېلې او منې را واخستې او نا وخته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوټل ته را روان شو، چې هوټل ته راغلو نو په رسپشن کې مو د سیمین پوښتنه وکړه خو هغه نه وه راغلې.

استاد قویم راته وویل چې ته ویده شه او زه همدلته لابي کې کېنم او ګورم چې سیمین کله راځي ما ورته وویل چې استاد ه څه یې کوې ځه ویده شه خو هغه راته وویل چې دې..... او د لوده لور رانه خوب تښتولی دی. هغه پاتې شو او زه لاړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نورو ته نوی ماته تکرار کلی

له مهالوبش سره سم دمې په شپږمه سهار نهه بجې پـه دوو موټرو کې د قونیې ښار سهیل ختیځ کې د سیلي په نوم یو داسې کلي ته لاړو چې لا هم هرڅه پکې زاړه وو زوړ کلي ، زاړه دوکانونه، زړه کـلا ، زوړ حمام ...لومړی کلیسا ته ورغللو داکلی له قونیې څخه لس کېلو متره لېرې پروت دی تاریخپوهان وایي چې ددې کلي اوسېدونکي ډېر غریبان وو عبادت یې په یوه کوچنۍ خامه او تیاره کلیسا کې کـاوه او دیو ، پاچا چې دامهال یې راڅخه نوم هېر شو مور پـه ځان نذر منلی و چې که دا کار یې وشو نو یوه لویه او ښکلې کلیسا به جوړوي کله چې دهغې کار الله جل جلاله وکړ نو هغې ته وویل شو چې پـه دې کلي کې عیسایان ډېر دي خو کلیسا یې کوچنۍ او خرابه ده او هغې هم همدلتـه یوه لویه اوښکلې کلیسا جوړه کړه.

دې کلیسا کې د ښکلیو انجونو او تنکیو هلکانو میناتوري ،ونې ،ګلان ، رسم شوي وو مور دلتـه انځورونه هم واخستل ،سیمین تـه چې سور څادر، او توري عینکې یې پر غاړه ،توره دربشي یې اغوستې او پوره دبالییوډ د اداکارانو ستایل یې جوړکړی و طاقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورنغی د کلیسا خواته لوړې ته وختله او فارسي شعر یې د یکلمه کړ، ملګرو یې ویدویې او ساده عکاسي وکړه.

له کلیسا وروسته یو لوی ګُلالي انتیک پلورنځي ته ورغللو دلته ډول ډول رنګه ختین لوښي جوړ شوي او پلورل کېدل، دلته یو کوچنی موزیم او یو زوړ حمام هم وو.

حمام ډېر تود و چې ورننوتلم نو یوتن پرسپین مرمرین تخت پروت وا او یو کیسه مال هلک کیسه کاوه.

د هغې لوړې لاندې چې سیمین پرې د شعر دیکلمې ته ورختلې وه درې مغارې (سورې) و.

لاندې کلي ته ورښکته شو دا کلی ټول زوړ او وروسته پاتې دی، کورونه یې خام او ختین و لکه د افغانستان د نورستان کورونه، لرګي پکې ډېر کاریدلي وو نورو بهرنیانو ته ډېر په زړه پورې وو ،خو ما ورسره دلچسپي نلرله کیلي له ما ، زما د دلچسپۍ د نشتون عوامل و پوښتل ما ورته وویل چې زموږ وطن همدا اوس هم همدا ډول دی. کلیوالي کورونه موهمدا نن هم همدا سې دي ما ته د حیرانتیا وړ او نوی څه پکې نشته.

دلته د کلي د مخ پر لوی سړک کار روان و سړک یې له تیګو جوړ او بیا یې پرې قیر اچاوه ما په پاکستان کې ډېر لیدلي وو چې مزدورانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

به دهمدوی په ښېر د سړک جوړولو لپاره پر سړک د غرونو تیګې په چکش ماتولې.دوی هم همدا کار کاوه.

اوس د تیګو ماتولو ماشینونو دا کار اسانه کړی دی خو د ترکیې حکومت ښایې خپل ولس ته کار موندلو په خاطر دا کار کړی وي.

د کلي مخ ته په کوڅوکې مې په ساده جامو کې څو تنه وسلوال ولیدل حیران شوم خو حیرانتیا مې هغه وخت زیاته شوه چې په یو کاماز ډوله موټر کې مې له شلو ډېر کلاشنکوفونه ،راکټونه ،چانتې او نور نظامي وسایل ولیدل ما ویل دا سیمه چې د افغانستان په ښېر وروسته پاتې ده لکه چې هماغسې یاغستان هم دی خو څوګامه وړاندې مې په رسمي یونیفورم کې پولیس ولیدل ور وړاندې شوم ګورم چې فلمي اداکاران درګرده د فلم صحنې ډکوي یا په بله وینا د فلم ډکولو لپاره شوټنګ کوي ،په دوی کې یوه تکه سپینه ښکلې پېغله هم وه ټولو لوبغاړو تورې جامې اغوستې وې.

همدلته یو کوچنی پارک هم و په پارک کې د یوې قهوه خانې مخ ته د لرګي په ښکلیو او طبعي ښکلا لرونکیو څوکیو کېناستو ،ما د شوټنګ ننداره پیل کړه خو د حیرانتیا خبره دا وه چې ترکان د دې شوټنګ په کیسه کې هم نه وو ، نه دې ښکلې هنرمندې او اکتورې ته چا ځیر ځیر او د خریدار په سترګه کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا له قهوه خانې څخه شراب ، چا بیر، چا ایسکریم راوغوښت خو ما تور چای ځکه را وغوښت چې شین نه و ، پیاله یې ایله یو غټ غړپ کېده خو بیه یې دوه لیرې وه.

ماکرستوفر ته په ټوکه وویل چې یا ته په همدې پیالې پنځوس پیالې چای یا بیر وڅښه پیسې یې زه ورکوم او یا زه شپېته پیالې چای څښم پیسې یې ته ورکړه هغه په خندا شو ویې ویل یآره دا یو کار هم نه کوم له تاسو افغانانو شک نشته ،په همدې ټوکو بوخت وو چې د فرخندې ډېره نا تراشه په لوړ غږ او زړه بوګنوونکې خندا مو واورېده لومړی خو ټول وارخطا شوو چې څه وشول وورسته پوه شو چې دا خو فرخنده ده موږ ټول حیران وو اوفرخنده اوسیمین له خندا په چمن کې لوغړېدلې ماته ډېره غصه راغلله خوځه مو کړې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ...تامریدی شمس تبریزی نشد

له دې ځایه څه کم دولس بجې د مشهور عابد ،شاعر ،صوفي او عارف او دحضرت مولنای روم د استاد شمس الدین تبریزي چې په شمس تبریز مشهور دی مزار ته ورغللو.

د شمس تبریز او له مولینا سره دهغه داړیکو په اړه مې دا بیت د برپخوا اوربدلی و

هیچ کس زپیش خود چیزی نشد
هیچ خنجر اهنی تیزی نشد
هیچ مولینا نشد مولای روم
تامریدی شمس تبریزی نشد

دمولینا دمرشد شمس تبریز زیارت دقونیې ښار په منځ کې په یوه لوی تک شنه پارک کې چې په شنو ونو پوښلی دی پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیارت د پارک شمال ته واقع دی، ښکلې دروازه لري او ګرانبیه غالۍ پکې غوړېدلې کله چې له یوې دروازې ننوځې نو لومړي مسجد مختته راځي چې ډېر ښکلې جوړ شوې په ځانګړې توګه محراب یې ډېر ښه ښکاري د مسجد د ننه جنوب ختیځ اړخ کې پاس زینه ختلې ده موږ خو پاس ونه ختلو خو ښکارېدل چې پاس خونې او د مسحد دننه اړخ ته راوتلې برنډه وه هماغسې لکه دکابل د لویې جرګې په خېمه کې چې دننه جوړشوې همدلته پاس دښځو لپاره بېل مسجد هم دی خو زموږ ښځینه ملګرو هېچا پکې لمونځ ونکړ ،دننه پرلوی سکرین چې په برېښنا روښانه کېده د تودوخې درجه ،وخت، د جمعې اود پنځه وختونود لمونځ وخت ښودل کېده ، امنیتي کامرې لګېدلې دي همدلته دننه مسجد کې شمال خواته په یوه چوتره د مولنا شمس الدین تبرېز زیارت دی.

پر زیارت توره او شنه ګرانبیه ټوټه چې ایتونه پرې لیکلي غوړېدلې ده، پر زیارت د زیارت کوونکیو بیروبار ډېر وو ځوانې او زړې ،ځوانان او سپین ږیري ترې راتاو و.د افغانستان په څېر خرافات پکې ځکه نه لیدل کېږي چې د قبر دوه خواوو ته د ېوال دی او له دوه خواوو یې کټاره تاوه ده او څوک قبر ته نږدې نشي ورتللی.

دمسجد ګرانبیه او رنګینې غالۍ انسان هڅوي چې څو رکعته لمونځ پرې وکړي ماهم څو رکعته نفل وکړل لا دلمانځه مکروه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخل شوی نه و، د مسجد په محراب ،منبر، زینو او د مزار ترڅنګ مو ګڼ عکسونه واخستل.

کله چې مزار ته ننوتلو نو سیمین ،فرخندې ،ژیلا، شغلې نامسلمانې کېلې، بیناشاه زېباه ټولو څادرونه پر سر کړل.

تاریخپوهان دا نه مني چې ګوندې همدا دې د شمس تبرېز یقیني، زیارت وي ځکه چې ،هغه دخپل شاګرد (مولنای روم ) د شاګردانو له لاسه وتښتېد او تر پایه یې د مړي ژوندي درک ونه لګېده.

غرمه مو هوټل ته راوړله دلته مې په فیسبوک او وېبپاڼو کې دافغانسان اړوند خبرونه ولیدل.

له معمول سره سم نن هم له دوه تر څلورنیموبجو خپلمنځي مباحثه روانه وه مازیګر مو له هوټل سره حساب تصفیه کړ خو کله چې یې بیل راکړ نو د خونو کرایه او خدمات یې ترهغه څه لوړ حساب کړي چې موږ ته په جدول کې لیکل شوي وو دهوټل یوه شپه شاوخوا دوه سوه ډالر، په دې توګه مو له وړاندوینې څخه درې سوه ډالره هوټل ته زیات ورکړل.

دخونې تسلیمۍ ته یې یوه ښکلې انجلۍ را ولېږله هغې خونه چک کوله او زه د اوداسه لپاره تشناب ته ننوتلم، ددوازې د تړلو اړتیا نه وه ځکه ماهم ونه تړله.مامې لاسونه وینځل چې انجلۍ هم تشناب ته راننوتله ،له حرکاتو او پرمخ د خجالت له نښو یې ښکاریده

(c) ketabton.com: The Digital Library

**چې مو خه يې څه ده زه هم څو شېبې د کشمکش په کمند کې ونښـتلم د غني خان شعر مې ذهن تـه ودرېـد داپرېکـړه سـخته وه چې غـوث اوکـه هجرا شم.**

(لېونی وایي والله چې یاخو غوث یې یا هجرا )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دنوشیهر پر لور

له مهالو ښش سره سم د مې په ۲مه مازیګر پا وکم شپږ بچې له

قونیې څخه نوشیهر ته چې دقونیې شمال ته شاوخوا ۴۵۰ کېلومتره لېرې پروت دی روان شو، دقونیې له ښکلي ښار سره مو خدای پاماني وکړه له ښاره بهر څو ستري ستري فابریکې پر مخ راغللې نو شیهر ته غځېدلي دوطرفه سړک پوخ وو خو داسې ښکاري چې زوړ شوی ونوځکه پرې بیا له سره ډبل قیر اچول پیل شوي وو .هلته نه فاسد حکومت شته دی، نه قرارداد پنځه شپږ لاسه خرڅېږي چې د سړک لپاره ورته له غوا څخه لکۍ پاتې شي. کارونه یې پاخه وو نه په سړک کې کندې وې اونه جمپونه،نه د جلال اباد -- کابل او نه دخوست-- ګردېز د سړک په څېر قیر تښتېدلی او په منځ یې جرونه و. د لار ډېره برخه د ښته وه خو په للمي غنمو پوښلې ډېر ځایونه اوپټې په پا یپونو خړوبېدل .

دهر کور لپاسه د لمریزي برېښنا تختې لیدل کېدلې ،هلته برېښنا ډېره وه خو وړیا برېښنا د بیې د برېښنا له سپما سره مرسته کوي، کله چې له قونیې څخه ووتلو نو انقرې خواته پر تللي سړک دې ښارته وکتورونه لیدل کېدل. د سړک دواړه خواوې ګڼو ګلانو پوښلې وې. ګلان دومره ګڼ دي لکه چې کرل شوي وي ملګري مو څوک ویده دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او څوک یو له بل سره ګپ لګوي فرخنده زما او استاد قویم سره په موټر کې کېناسته خو سیمین د بل موټر په وروستي سیټ کې له محسن سره کېناسته او خپل راز و نیاز یې پیل کړ.

محسن اصلاً ایرانی و خو په مکزیکو کې اوسېده ،عمر به یې پنځوس کاله وو خو د شرابو دومره معتاد وو چې بوتل به یې له ځان سره ګرځاوه غاښونه یې تور اوښتي او رنګ یې د پوډري وو ویل یې چې کورنۍ یې په ایران کې ده یوه مکزیکۍ مېرمن یې وه هغه هم ترې تللې ده او اوس په مکزیکو کې یواځې اوسېږي خپله یې ویل چې ایران ته هم تللی نشي ځکه چې خپله عقیده او دین یې بدل کړي او بې خدا دی ، ما ورسره ډېر بحث وکړ خو ده پر فلسفي (اسلام) تکیه کوله یوه ورځ د مباحثې پر وخت زه ورته متوجه په دوه ساعتو کې یې درې بوتله تش کړل ده به ورته اب شینګولی ویلې ،ایرانۍ شعله او ژیلا ډېر لوڅ وو دوی هم په غرب کې اوسېدل، خو له ایران څخه راغلي دوه تنه د پوهنتون استادان ښه مسلمانان او درانه خلک وو.

پر لاره مو موټر مازیګر د لمانځه لپاره و دراوه دلته یو پمپ و تر څنګ یې کوچنی مسجد او شاته یې لویه مغازه وه چې ډېر ضرور او نا ضرور شیان پکې موندل کېدل.پراخ او پاک تشنابونه بیا د دې لویې مغازې تر شا وو د اوداسه لپاره بل ځای نه و مجبور شوم چې آن د چهاراندام لپاره هم یوه لیره ورکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر لاره مو څو ځایه کوچیان هم ولیدل خو د افغانستان د کوچیانو په څېر خېرن نه ،بلکې پاک د هریوه د کېږدۍ ترڅنګ به یو کاماز ته ورته موټر ولاړ و.

پر لاره یو کوچنی ،خو پر لوړپوړو ودانیو ښکلی بازار مخ ته راغی، همدلته د نوشهر او انقرې لارې بېلې شوې وې موږ باید **۷۵** کېلو متره شرق ته تللي وای خو انقرې ته شمال خواته سړک تللی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوشیهر

دا ښار ترکیې په مرکزي سیموکې واقع ده، وچه او سړه هوا لري نفوس یې په ۲۰۰۰ ز کې شاوخوا **۳۰۹۹۱۴** تنه وو پراخوالی یې **۵۴۲۷** کیلو متره مربع دی.

مشــهور ښـــار ګوټي یـــې اجـــي ګـــول، اورانـــوس، درینکو، ګـــل سهیر، حاجي بکتلش، کوزاک یې او ارګوپ نومېږي کپادوکیا یا دترکیې تر ټولو مشهور تاریخي سیمه هم په نوشهیر کې واقع ده په حقیقت کې کپادوکیا د نوشهیر ترټولو مهم ښار دی.

ماسخوتن د نوشهر ښکلي او لوی ښار ته ورننوتلو ښار په زېړو رڼاګانو زرینه ښه درلوده لوړې او اسمانڅکې یې درلودې خو موږ د ښـار ختـیځ تـه لـه ۲۰کیلـو متـرو ډېـر لاړو ،هلتـه پـه غونـډیو کـې جوړو کلیوکې هوټلونه جوړ شوي و زموږ نور ملګري یې همدلته په یوهوټل کې ښکته کړل خو زما ،استاد قویم ، فرخندې او سیمین لپاره بل ځای په پام کې نیول شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ ډېر ملګري همدلته په الکپ يوې کېف هوټل کې، ۲تنه په سيرين هوټل کې او موږ تر دوی يوولس کېلومټره لېرې د کپادوکيا سيمې په ډيلک کايا هوټل کې ځای پر ځای کړل شوو.

کله چې زموږ ملګرو ته په الکپ يوې کيف هوټل کې ددوی خونې ورښودل کېدلې نو ماهم وغوښتل چې دا هوټل ووينم، ديوې خونې دروازه پرانيستې وه ماهم ببرته کړه او سر مې ورننو ېست ګورم چې مخامخ پر تخت يوه انجلۍ له يو سينه بنداويو نيکرسره لوڅه پرته ده او کتاب يې مخ ته نيولی وو هغې هم کتاب بند کړ پرته له دې چې په غوسه شي يا کوم غبرګون وښيي را ويې کتل ما ترې په انګليسي بخښنه وغوښتنه او دروازه مې بنده کړه.

کله چې هوټل ته راورسېدو نو سيمين په محسن پسې ډېره نا ارامه وه ما ورته له طنزه وويل چې خفه کېږه مه، يوه ټکسي ونيسه او بيرته محسن ته ورشه ،خو هغه پوهېده چې يو خو تېر ما سخوتن دی بل په ښار کې نابلد ي، هلته د ټکسي نشتون، د ترکيې قېمتي او... د هغې پر وړاندې پرتې ستونزې وې.

دا هوټل هم د غونډۍ په تراشلو دغونډۍ منځ کې جوړ شوی و.د هوټل ديوالونه چت او نور له خښتو او تيګو جوړ نه و، بلکې غونډۍ تراشل شوې وه ،نلدواني ،دبرېښنا او انټرنېټ مزي غځېدلي و خو رنګ يې طبعي و، دانټر نېټ په شمول هره اسانتيا پکې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته هم د هر کلي په څانګه کې یوه تنکۍ ترکۍ پېغله چې زما په خبر کمه کمه په انګلسي پوهېده ناسته وه. موږ ته لا دمخه خونې ریزرف شوې وې، دې انجلۍ چاپیانې را واخستې له موږ سره روانه شوه هرچاته یې د هغه خونه وروښوده .بیکونه را سره د هوټل مستخدم تر خونو ویوړل.

کله چې دې ترکۍ د یخچال د ښباک او نور خوراکي توکي را ښودل نو په ټوکه مې ورته وویل چې ګوره الکولي را باندې ونه ښبې، چې بیا به مې کنټرول کولی نشې، تا سو پوهېږئ چې دا مهال به زما د زړه ضربان څو و ، دا هوټل د نوشهرې ښار بهر ۲۰ کیلو مټره لېرې ،په یوه کلي کې جوړ شوی وخو ددې کلي کوڅې هم لویې او پخې وې، ددې انجلۍ له وتلو وروسته مې څه موده په سکایپ او فیسبوک کې له دوستانو سره اړیکې ونیولې د افغانستان له حالاتو مې ځان خبر کړ، وروسته ډوډۍ ته لاړم په خوړنځي کې د بوفې سیستم و هرڅه پرېمانه ول ، کله چې له خوړنځي څخه را ووتلم نو د موسیقۍ غږ می واورېد ، لږ وړاندې د ، کوچني میدان مخ ته بیرو بار وو چې ورغللم نو د خونې ددروازې په سر یې په لوی خط لیکلي و (نایټ کلب ) Night clubدننه مې سر ورښکاره کړ، بد حال و ،ناست خلک کم او خوځېدونکي ډېر و هرې انجلۍ یو بېچاره هلک له لاسه نیولی او له ځان سره یې تاوا وه. د سګرټو او شرابو بوی هم په سړي سرګرځاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الحمد لله چې الله جل جلاله د لمانځه ادا کولو توفيق راکړی د شپې چې هر څومره نا وخته څملم خو چې سهار د لمانځه وخت شي نو دذهن الهي او فطري کمپيوټر مې را پاڅوي ، ددې کمپيوټر زنګ تر هغې اورم چې ترڅو مې لمونځ نه وي کړی.

سحر اوه نيمې بجې بيا خوړنځي ته لاړم کوم ۴۰--۵۰ ډوله خوراکي توکي ايښي و.

د خوړنځي مخ ته ښکلې او پراخه مرمرينه برنډه وه، لمړۍ برښه لګېده، مېزونه او څوکۍ پرېمانه وې ،ښه منظره هم برېښېده قاب مې هملته وبوړ څو دقيقې وروسته سيمين هم خرامانه را روانه وه، هغه هم همدلته زما ترڅنګ کېناسته، کيسې مو سره وکړې، له ډوډۍ وروسته د هوټل پر ليدلو بوخت شوو ، دريم پوړ ته چې وختلو ګورو لوی حوض دی شاو خواته يې ښځې او سړي په يو نيکر او سينه بند کې لمر ته پراته دي د حوض شا وخوا يو ډول له ربړ جوړې شوې څوکۍ وې چې انسان پکې تکيه هم کولی شي او څملاستلی هم شي.

دلته لمر ته تږو اروپايانو ځانته لمر ورکاوه او استاد قويم لکه شاهين ترې دورې وهي استاد قويم ته مې هغه د خوشال بابا بيت ووايه:

زه خوشال په سپينه ږيره په عذاب يم
خدای خبر چې د ځوانانو به څه حال وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کېدوکيا که د فطرت کرشمه؟

نهه بجې مو له کوربنو سره بهرته د وتلو ژمنه وه هغوی هم په وخت را ورسېدل او په يو کاسټر او يوه مرسډيزموټر کې روان شو، په کمرونو او غونډيو کې ښه وړاندې لاړو موټر د يو تور سړک په خوا کې د غونډيوتر څنګ د يو پراخ ميدان څنګ ته ودرېد، له شلو ډېرو نورلوی او کوچني موټر هم ولاړ او سيلانيان په غونډيو وېشل شوي وو دلته له يوه کلي څخه موزيم جوړ شوی، ټکتونه يې راته واخستل دننه د قبل الميلاد تمدن نښې اوس هم پربمانه وي پر تراشل شويو غونډيو کې کورونه، حمامونه، بيت الخلاوې، پېژندل کېدلې، کوربنو راته تشربحات راکول، دننه سمځه کې څو خونې وې په دې خونو کې دننه په توږل شوې غونډۍ کې المارۍ جوړې وې، دخونې دننه له توږل شوې ځمکې د ډوډۍ خوړلو مېز او شا او خوا يې له توږل شوې ځمکې څوکۍ جوړې شوې وې.

دخوب خونې، خوړنځی، پخلنځی، بېل بېل و.

معبدونه يې جدا او په لاس جوړ شوي خدايان يې هم ايښي و ددوی دود داسې و چې خپل مړي ته به يې په خپله لويه خونه کې لحد ته ورته ځای جوړ کړ او بې له دې چې خاورې پرې واړوي مړی به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکې کېښود د مړو لپاره کومه ځانګړې هدیره نه وه په یوه خونه کې په همدا سې لحد کې اوس هم د یو مړي اسکلېټ ایښی و خو ټول لحد په شیشه پوښلی و انځور اخستل یې هم منع و.

داکلی یا ښار په پراخه سیمه کې جوړ و د دښمن د مقابلې لپاره لوړ لوړ برجونه تو ډل شوي او له برج څخه هره خوا د غشو ویشتلو سوري و ېستل شوي و سم لکه په شینوارو ،باړه،تیراه، علي مسجد او نورو پښتني قبایلي سیموکې زموږ د پښتنو د کلاګانو برجونه.

زه چې د خپلو پښتنو دا برجونه وینم نو افسوس کوم چې موږ اوس هم له میلاد څخه پنځه سوه کاله پخوانی ژوند لرو آن له هغه وخته هم وروسته یو ، دهغوی پخلنځي ،خوړنځي د خوب او ناستې خونې هماغه وخت هم بېلې وې خو موږ اوسهم په یوه خونه کې دا هرڅه کوو.آن اوس هم څاروي راسره په یوه خونه کې تړو.

دلته دافغانستان د بامیانو د بتانو په څېر په غرونو کې له لسو ډېر بتان دی خو د بامیانو د بتانو په څېر ستر او لوی نه ،دلته هم اوس دبت عبادت نه کېږي ،څوک ورته په کرکه او سپکه هم نه ګوري، دلته بت د ښمن نه ګڼل کېږي ، نجس شی ندی، د و ېشتلو لپاره یو کنډک نه ورځي هاوانونه ورته نه نصبېږي ، توغندي پرې نه توغول کېږی ، له ویشتلو او نړولو وروسته یې سل غوایان نه خیراتېږي ، نړول یې دیني ضرورت نه معرفي کېږي ،بلکې د عثماني خلافت او دیني مرجعیت په پلازمینه کې یې درناوی کېږي ،ساتلو ته یې کنډکونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمت ته یې متخصصین او لرغونپوهان ګومارل کېږي ، دقوم او ملت تاریخ او هویت پرې پېژندل کېږي، د کلتوري شتمنۍ او اثارو په سترګه ورته کتل کېږي ، ډالر پرې ګټل کېږي ، سیلانیان ورته را غوښتل کېږي زمینې ورته برابرېږي مونږ هم مسلمانان یو او هغوی هم ، مونږ ته اسلام تر هغوی وروسته راغلی،ترکیه اته سوه کاله د اسلامي خلافت پلازمینه وه ،د روم او قسطنطنیې تاریخ او اسلام ته خدمت د اسلام د تاریخ زرینې وړانګې دي.

دمسلمانانو لخوا ،داوسني استانبول دفتحې زیری خپله قرآن ورکړی (غلبت الروم... ) او دقرآن یو سورت د روم (اوسني استانبول ) په نوم دی.

دلته هم د نا امنۍ اندېښنې وې ، د ننوتلو دروازه کې کمپیوټري تالاشي کېدله ټکټ راته کوربنو وکړ نو ځکه یې له بیې خبر نشو.

له راوتلو وروسته بهر له دروازې سره ملګرو ته منتظر وم چې یو چا راباندې په فارسي غږ وکړ ویل یې وطندراه افغان یې، ماوویل هو ، دهغه ښکلې دریشي پرتن وه،ښکلې ځوانه ښځه هم ورسره وه له خبرو یې پوه شوم چې هغه هم افغان او دکابل پخوانی او اوس د انقرې اوسېدونکی او دلته سیاحت ته راغلی و، یوه شېبه مو خبرې وکړې دخپل هېواد په ملي جامو(کمیس ،پرتوګ او واسکټ )یې ډېر وستایلم له څو انجونو سره یو پاکستانی پنجابي هم را پیدا شو له هغه سره مو هم لنډ بنډار وکړ له دوی سره مو ګډ انځورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو ښستل، سړک ته چې را ووتلو ځينې خلک يوې لوري غونډۍ ته
ختل زه هم ورغللم غونډۍ ته ختلو سترې کړم خو نو د شهرې ټول ښار
او کپادوکيا ترې ښکارېدل.

لاندې مو ملګرې پوره شوي و. د کراچۍ او سېدونکې ۳۲ کلنې
،چاغې او غنمرنګې پېغلې بيناشا راته غږ وکړ چې ورغللم ،هغې
مخکې تر مخکې زېبا پوهه کړې وه لومړی يې له لاسه ونيولم وروسته
يې له غاړې راته لاس تاو کړ او زيبا مو انځورونه وښستل ما ځان
خوشې کاوه خو هغې نه پرېښودلم، انځورونه ګډوډ راغلل خو ويې
وښستل، بيناشاه په ټوکو راته وويل چې له ښځو دومره وېره هم پکار
نده، څومره چې ته کوي ،موږ خو ادم خواره نه يو.

زېبا سپينه ،ښکلې او نرۍ ځوانه ښځه وه ويل يې مور يې د کابل
د پغمان او پلار يې د هند د اترا پردېش او سېدونکی او د اخپله د
امريکا اوسېدونکې او د امريکا تبعه ده،زموږ د کوربنو له ډلې وه
دلته ګرځنده انځورګران هم و ،له اوښانو سره هم انځورونه اخستل
کېدل.

کوچني هوټلونه، کانټينونه، دانځورګرۍ دوکانونه، پرېمانه و.

زه همدلته ګرځېدلم چې يوې پېغلوټې ترکۍ راته يو سپين قاب را
وړاندې کړ د قاب په منځ کې زما انځور چاپ شوی او شا خوا ترې
ډېره ښکلې ميناتوري وه په قاب کې د خپل انځور په ليدو خوښ هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوم او حیران هم، ترکۍ راته وویل چې لس لیري راکړه او قاب واخله، ماورته پنځلس لیري ورکړې خو ورته مې وویل چې دا انځور مو له کومه کړ، اودلته مو څنګه چاپ کړی هغې وویل همدا لس دقیقې وړاندې مې دلته ستا انځور واخست او یو کانتېنر ته ورته دکان ته یې اشاره وکړه دلته مو چاپ کړ.وروسته پوه شوم چې دوی د هر سیلاني چې ددوی زړه پرې اوبه څښي او باور لري چې پیسې یې ورکوي انځور په ناپامۍ کې وباسي.هلته یې په قاب او کاسه کې ورته چاپ کړي بیا یې ورپسې وروړي او لس لیرې ترې غواړي ډېر خلک له شرمه هم پیسې ورکوي. موږ هلته ډېر ولاړ وو ځینو لادا پیسې نه ورکولې دا استاد قویم عکس یې هم راووړ هغه ترې قاب نه اخست،ماورته ویل استاذه داکمې پیسې دي شرم دی وریې کړه ،هغه لومړی پنځه بیا اته لیرې ورته ونیوې خو زه ورپسې شوم ماویل بیابه افغانانو پورې خاندي،استاد قویم بخیل سړی هم نه و څوځله چې په قونیه کې له ماسره هوټل ته تللی و نو آن ګارسونانو ته به یې هم تر پنځو لیرو ورکولې، دلته یې انکار ته زه ډېرخې حیران شوم.

د کپادوکیا پخوانی نوم کاپادوسیه ده چې د ښکلیو آسونو د ځمکې معنا لري داسیمه د ترکیې په مرکزي سیمو کې ده او د اور شیندنو او د جیو لوجیکي تغییراتو د پاتې شونو ،د توري بحیرې سویلي سواحلو ته د نږدیکت له امله ډېره مشهوره او د سیلانیانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـام وړ ده همـدې درې مواصـفاتو کپادوکیا تـه عجیبـه، بـې بېلګـې ،هیښوونکې، ښکلې او زړه را ښکونکې ځانګړنه ورکړېده.

دا ښار د طبیعت او تـاریخ د ادغـام او همغـږۍ بې بېلګـې نمونـه ده او له تیګو او خصرو څخه د جوړو شویو درې ښارونو څخه یو ښـار دی چې پـه ۱۹۸۵ زیږدیـز کـال د یونسـکو لخـوا هـم د یـو نړیـوال معتبر کلتوري میراث په توګه وپېژندل شو د تاریخپوهانو په اند دا غونډۍ لسـګونه زره کالـه وړانـدې د اورشـیندلو د اوبـو ، هـوا او ګـازاتو د جیولوجیکي تغییراتو له امله جوړه شوې ده.

د طبیعت او تـاریخ د تلفیـق دا کرشـمه ،مخروطي ،ستنو، تېرې او اوږدې نوکې چترۍ او پر سر خولۍ ته ورته بڼې لري

د تاریخ پوهـانو پـه وینـا ، پـه دې سیمو کې اورشیندنې او فـوران یې د ( یوسین ) په دوره کې اویا میلیونـه کالـه وړاندې کله چې د دې اورشـیندنې ویلـې شـوې او نتـایج د نیـوجین سـیندګوتې تـه ولوېدل ،دلتـه دلجیس، حسـن داغ، اوکوللـو ، داغ غرونـه د اورشـیندنو مهمـې نقطې وې، چې د پیریانو په دود کش مشهورې دي، پـه کپا دوکیـا کـې ژوند له قبل التاریخ ( له تاریخ څخه وړاندې پیر ) څخه پیل شوی دی انسانانو په همدې دود کشونو کې ژوند پیـل کـړ دا ځایونـه یـې وتـوږل ،برابر یې کړل او استوګنې ته یې چمتو کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ، اکسارامی نوښهیر، نیغده،قیصري او کیردو نتهیو ولایتونه ټول د کپادوکیا اړوند وو.

د کپادوکیا د ډبرلیکونو څېړونکیو، داسې کودوړي موندلي چې په مېخي خط پرې مالي مقرارت د ګټې اندازه د ودانیو او تجارت مقرارات لیکل شوي.

هاتیان،هتیتیان،فریجیان، ایرانیان، رومیان، ابیزاسیان، سلجوقیان او عثمانیان ټول د کپادوکیا د جادوګرې ښکلا مجذوبان شول او خپلې نښې یې هم ورسره یو ځای کړې، کپادوکیا د بېلابېلو ادیانو،عقیدو، فلسفو او مذاهبو دټکو او د یو بل تر اغېز لاندې را وستلو سیمه ده.

ویل کېږي چې دلته زرګونه ،مساجد او کلیسا ګانې شته خو کلیساګانې اوس نه کارول کېږي.

دلته هندویزم،بودابیزم،زردشتیزم،یهودیت او عیسویت او اسلام ټولو ژوند کړی دی.

په ختېنو لوښو کې شراب جوړول پخوا هم دود و اوس چې عصري او ماشیني شراب هلته هم جوړېږي خلک اوس هم هماغه د ختېنو لوښو شراب خوښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تر ځمکې لاندې هېښوونکی تاریخي ښار

په دوهمه پېړۍ کې چې د رومیانو له لاسه د انکاکبې او قیصر یې له لارې دلته له یرو شلم څخه مسیحیان راغلل نو په درین کویو نومي سیمه کې مېشت شول، دلته هم د اورشیندنو او جیو لوجیکي تشبثاتو له امله یوه لویه غونډۍ چې سلګونه دود کشونه (دود وتنې) لري مېشت شول.

دا غونډۍ نرمه وه، اسانه کار پکې کېده نوځکه یې همدلته واړول.

زموږ کوربنو راته وویل چې په دې غونډۍ پنځه زره کاله پخوا کار شوی او خلک پکې اوسېدل.

درین کویو، ته موږ هم ورغللو اوس د دې غونډۍ تر څنګ لوی کلی او د سیلانیانو لپاره د لسګونو دوکانونو درلودونکی ښکلی بازار هم جوړ شوی دی.

درین کویو یا په غونډۍ کې دننه بند کلي ته لار له یوې سمڅې نه تلې ده دلته هم کمپیوټري تالاشي ده، ټکټ پلورل کېږي دننه ټول کلي ته برېښنا ورکول شوې ده، په دې غونډۍ کې تونې او کیندنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې شوي دي چې يوله بل سره لار لري، دومره لار چې په ځينو ځايونو کې ايله يو تن پکې په ډېر زحمت ځايېږي، دلته د غونډۍ په شمول څلور پوړه تر ځمکې لاندې جوړ شوي دي، هر پوړ کې لسګونه خونې دي ، دلتـه تـر ځمکـې لانـدې بشـپړ کلـی دی معنـا دا چـې عباد تځايونـه لـري ، د مشـورې هالونـه لـري، خـوړنځي ،پخلنځـي، دناستې خونې د خوب خونې، هرڅه بېلابېل ، د حيرانتيا خبره داده چې تـر ځمکـې څلـور پوړوتـه يـې هم هـوا اوهم رڼا رسـوله،دوی ،دا سوري اولارې په ډېره ماهرانه نقشه جوړ کړي آن اوسني انجنيـران هم ورته حيران دي.

زموږ د کوربنو او لارښوونکيو په وينا ،دلته پنځه زره تنه اوسېدل او د ټولو د اوبو ،خوړو ، د حاجت د رفع کولو ، ذخيرواو ګوداموټو غم شوی و ، بيا هم حيرانتيـا ده چې ددې پنځو زرو تنـو د متيـازو لـه بوی سره به دوی څه کول؟

ددې بند ښار يا کلي برنۍ برخه کې چې غونډۍ ده بهر تـه د کتلو ،پهره کولو او غشو ورولو لپاره سوري جوړ شوي و چې د هغـه وخت ډېره پراخه دښتـه ټوله ترې ښکاربدله.

، د جنګياليو او پهره دارانو لپاره پياوړي برجونه جوړ شوي و.

دلته همدا نن او همدا اوس هم سلګونه سيلانيان ددې ښار کتلو ته راغلي دي ، موږ هم ورو ، ورو له يو تونل څخه تر ځمکې لاندې دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښار ته ،ورننوتلو، کورېنو او لار ښوونکیو راته هر ځای تشریح کاوه، دوه پوړه ، مو چې وکتل او ښکته دریم پوړ ته لاړو نو تنګو، اوکږو وږو لارو زړه تنګی کړم، وسوسه راسره پیدا شوه چې هسې نه دبېرته را وتلو په وخت کې بیروبار شي،په دې تنګو او تاو راتاو لارو به څنګه ووځې، لار ښونکیو راته وویل چې تر ځمکې لاندې وروستی یا پنځم پوړ دځمکې له سطحې شپېته (۶۰) متره لاندې دی.

زړه مې تنګ شو ما ویل نور ښکته نه ځم، خو چې ومې کتل، همدا اوس لسګونه نجونې بې له هر ډول وېرې روانې دي او ښکته کېږي وشرمېدم زړه ته مې خپله ډاډ ورکړ، دهغوی له پېغور څخه ووېرېدم او ورښکته شوم ښار مو ښه سم وکوت، پنځه زره کاله وړاندې چې انسان کوم کمال ښودلی و د نن انسان ورته حیران دی.

له دې ځایه را ووتلو ملګري مو په بازار کې وویشل شول چا سودا کوله څوک بارونو او څوک کافي ځایونو ته ننوتل ، چا شراب ،چا کافي را وغوښتل ،څو ملګري مو یوې باغچې ته ورته هوټل ته ورغلل، زه هم لاړم ترې وم ،یو پېپسي مې را وغوښته.

هلته یو ډول ځانګړې ترکۍ خولې پلورل کېدلې چې له تار څخه جوړې وې هم یې د چلتار ،هم دخولۍ کار ورکاوه ډېره ښه برېښېده، کله مې چې په سر کړه نو ټولو ملګرو ته مې ښه ښکاره شوه ټولو راسره ګډ عکسونه واخستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کپادوکيا کې د رينکو، يوائينۍ تر ځمکې لاندې تاريخي بازار نه دی، بلکې د کايماکلي، مازي او زکوناک او تا تالارين په نوم نور هم شته دی.

په کپدوکيا کې د موجو،دولکاديرلي اينليمورات او کومبتالي په نومونو تر ځمکې لاندې نور ښارونه هم شته، چې له دې ټولو څخه د ځان ساتنې ګټه اخستل کېده.

دا داسې ښارونه و چې که محاصره يې اوږده شوې او د خوراکي توکي، له کمښت سره مخ شوي نه وای نو په زور نيول يې که نا شوني نه و نو له شک پرته ډېر سخت کار و.

کوترې چې په اسلام کې د سولې د کورنۍ فداکارۍ او په عيسويت کې د خدا ی د روح سمبول بلل کېږي هم د کپادوکيا په لوړو کې ليدل کېږي.

د کپادوکيا لاسي صنايع ډېر شهرت لري او ډېر پيدا کېږي، همدا راز د کپادوکيا د غونډيو لمنې تل په رنګه لويو پوکانيو يا هوايي بالونونو رنګينې وي چې ځينې يې پکې له پراشوټي چتريو هم ستري وي.

له دې ځايه دنه مهار کېدونکو تخيلاتو په رښتوني تعبير کې را وخوځېدو، موټر روان دی خو چې هره خوا وينې په طبيعت او انساني تخليق جادوګر او هيښوونکي ترکيب ته دی ستر ګې لړېږي زرګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستنې هرمونه ،مخروطونه په غونډيو او دخوړ د کمرو په غاړه ولاړ بتان،زه بايد اعتراف وکړم چې ددې اثارو له انځورولو بيانولو او معرفي کولو عاجز يم.

نيم ساعت مزل به مو کړی و چې يو ډېر لوی هوټل ته ور وګرځېدو هوټل ډېر لوی و دهر څه د ذوق تنده يې خړوبوله ډوډۍ د بوفې په سېستم هم وه او فرمايشي هم، ډول ډول الکولي او ساده مشروبات، قيلون او چلم پکې و له څو اړخونو يې لار وه، ماله ډوډۍ وروسته ژر ژر د ماسپښين د لمانځه غم وخوړ خو له بده مرغه د لمانځه لپاره پکې ځانګړی ځای نه و، د هوټل شاته مې يو مناسبه خونه ومونده همله ته مې مسافرانه لمونځ وکړ.

له دې ځايه د کپادوکيا نورو تاريخي ځايونو ته لاړو نږدې مازيګر وګرځېدو ماښام نږدې يې هوټل ته را وګرځولو.

زما د بکس ځنځير خراب شوی و د جوړېدلو لپاه يې پلاس او پيچ تاو په کار و په رسپشن کې هماغه ترکۍ نجلۍ ناسته وه ډېره هڅه مې وکړه چې په انګليسي يې پوهه کړم چې پلاس او پيچ تاو راکړي خو څه غنم لامده و اوڅه ژرنده پخه وه څه زما انګليسي کمزورې وه اوڅه دهغې خو ونشوه، بالاخره مې ورته اشاره وکړه چې خونې ته راسره ولاړه شي هغې هم رسپشن يا د معاملاتو څانګې ته بل تن راوغوښت او راسره روانه شوه زما اطاق يې ښه وکوت،بکس يې هم واړاوه راواړاوه ،بالاخره لاړله داسې امبور يې راوړ چې تابه ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې کارته جوړ شوی دی ،ځنځیر یې ژر جوړ کړ ماچې ددې اخلاص ولید نو له جیبه مې ورته ۵۰ ډالري لوټ را وویست او په لاس کې مې ورته کېښود ، نور نو دا زما ملګرې شوه، هر ساعت به یې سر را ښکاره کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیم ګیټ

(samgate) یا برابر ور )زموږ د پروګرام نوم و د دې سفر او د دې سیاحتي سیمینار لپاره نوم له همدې ځایه اخستل شوی و.

سبا ته د سهار لخوا سیل ته ووتلو ،ماسپښین مو بیا بحث درلود ، دا بحث د لومړي ځل لپاره له خپل وخت څخه یو نیم ساعت ځکه وروسته پیل شو چې نور خلک له بحثونو ستړي و ، د بحث په جریان کې ښه چای، کلچې کېک هرڅه برابر شوي و بحث پای ته ورسېد وروستی ډله بیز بنډار او د خدای پاماني شېبې وې، د هوټل یوه دروازه په ګلانو پوښل شوې وه، ټولو ډېر ګډ انځورونه واخستل، هر یو به له نورو سره خدای پاماني کوله اوله دروازې به چې په ګلانو پرې (samgate )لیکل شوي و بهر ووت.

دا رسمي خدای پاماني او د پروګرام رسمي پای و که نه لا مو هم ګډ ګرځېدل او لیدل کتل درلودل.

د پروګرام ګډونوال چې له نولس هېوادونو څخه راغلي و په دې اتو ،نهو ورځو کې ډېر خواږه او صمیمي شوي و ،ټولو یو بل پسې ژړل، هلته د نارینه او ښځو یو بل غېږ کې نیول او ښکلول کومه بده

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره نه بلل کېده نو ځکه به ښځې او نارینه و کوم لس پنځلس دقیقې یوبل په غېږ کې نیول او ښکلول به یې.

زما په شمول د ټولو له سترګو اوښکې روانې وې خو د سیمین حالت بیا استثنايي و هېڅ زړه یې نه کېده چې له محسن څخه بېله شي.

جدايي مه راولې خدایه

ماجدايي لیدلې نده مړ به شمه

د سیمین په لیدلو څو ملګري باوري شول چې هغه په هغه بدرنګه ، وچ کلک ، شرابي بی خدا پسې مړه ده ، د محسن غاښونه له خیرو زېړ اوښتي و ،شرابو یې رنګ پوډري ته ورته کړی و ، خو(( زړه چې مئین شي ښایست نه غواړي ))

پروګرام داسې و چې نن ماښام په یوه ډېر انتیک او تاریخي هوټل کې د کوربنو مېلمانه و ماښام ته لا درې ساعته پاتې و او زموږ هوټل هم لېرې و یو ساعت مو په دریم پوړ کې تال کې وځنګل، د محسن خونه نږدې وه هلته ورغللو خو سیمین لا د مخه هلته تللې وه محسن هم مخ ته د شرابو بوتلونه ایښي و زموږ په ورتګ خوشحاله شو خو موږ مناسبه ونه بلله چې د عاشقانو وروستی دیدن او خلوت خراب کړو بېرته را ووتلو ،د هوټل مخ ته پر څوکیو کېناستو ،ماکتاب لوست چې بیناشاه راغلله خواته مې کېناسته له څو دقیقو وروسته یې راته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل راځه اطاق ته لاړشو هلته به څه وخورو ،څه به وڅښو ،کیسې اوخبرې به وکړو ماورته مطالعه پلمه کړه خو هغې مې له لاسه کتاب کش کړ او روان یې کړم.

د بیناشا اطاق هم یو کسیز او د غونډی دننه تورړلي ځای کې و ،په فریزر کې ورسره خوراکي او دڅښاک شیان پرېمانه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وروستۍ ناسته او د خدای په امانۍ شیبې

مازیگر ناوخته ټول هوټل ته ور روان شو په هوټل کې ډېر بیرو بار و خو موږ ته لا دمخه مېزونه ریزرف شوي و، زه ، کیلي، ،زیبا ، بیناشاه، شعله، او ... پر یوه مېز کېناستلو ، کیلي غږ وکړ چې هرڅه اوهرڅومره خوری لګښت مو پر موږ دی، خو د شرابو پیسې مو پر ځان ، دلته تازه د پسه ، کبانو ،چرګانو ،مرزانو تازه سیخ کباب، نور ډول ډول توکي ،مشروبات ،سوپ، تازه مېوې، فرني باب، پرېمانه و ، خوندوره ،ژوندۍ موسیقي غږول کېده، هرڅوک به چې نڅاه ته پورته شو هماغسې سر او تال ورته نیول کېده، هنرمندانو غربي، عربي، ترکي او ایراني ساز غږولی شو.

زموږ محفل کاملاً شخصي او د شخصي ژوند په اړه و کیلي وویل چې یوه لور لري او اوس له درییم مېړه سره ژوند کوي ، شعلې وویل چې له مېړه یې طلاق اخستی او یوا ځې اوسېږی، زیبا وویل چې تر اوسه اولاد نلري او ژر یې د زېږېدلو اراده هم نلري، بیناشاه خو هسې هم پېغله وه،ما چې کله د خپلو بچیانو شمېره ورته وښوده ټول حیران شول ،کیلي ته مې د خپل درې میاشتني زوی سجاد عکسونه چې تیار په مبایل کې راسره وو وښودل، ډېر یې خوښ کړ بیا ټولو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

عکسونه ولیدل او ټول خوښ شول ، کیلي راته وویل چې د مېرمن عکسونه دې هم راوښیه ،ماورته وویل چې راسره نشته، خونه یې منله ، چې ډېر یې ټینګ کړم نو ما هم همدا ځو میاشتې وړاندې د نوي ډهلي په قطب منار کې له یوې یمنۍ ښکلې ژورنالیستې سره ګډ انځورونه اخستي و هماغه مې وروښودل، نورو ډېر وستایله، زما د یمنۍ خیالي مېرمنې ښکلا ،ځواني، جامه، مود ، ذوق، ستایل هرڅه یې خوښ شول ، شعلې راته وویل چې ته دا نهه ورځې په شخصي جاموکې وګرځېدلې خو مېرمن دې هغه ده د نړۍ په کچه لوړ ذوق لري خو کیلي چې دا انځور ولید سر یې وخوځاوه ماته یې وویل چې ښاغلی حقیار ! یادې د بچیانو شمېر دومره نده چې ته یې وایې او یادې دا مېرمن نده ،ماورته وویل نه زما خبره سمه ده خو ویې نه منله، وروسته یې هغه نور هم د ځان ملګري کړل، کرستوفر لاس را اوږد کړ چې عکس وګوري او منځګړتوب وکړي خو ما مبایل ورنکړ، کیلي ورته وویل چې ته دا افغانانو په دود نه پوهېږې، افغانان هېڅکله هم د خپلو ښځمنو انځور پردي نارینه وته نه ښکاروي، بې ځایه لاس مه وراچوه هغه چې دا واورېدل لاس یې کش کړ او ځوځله یې بخښنه وغوښته.

،وروسته یې خپله دا حیرانتیا هم له موږ سره شریکه کړه، چې د انځور په لیدو نو څه کمېږي یا زیاتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماچې کله د بیناشاه په هکله واورېدل چې تراوسه پېغله ده نو هغه د درانه استاد محمد اصف صمیم  ظریفانه خبره راپه زړه شوه، له استاد صمیم څخه چا د یوې مشهورې پښتو ژبې په عمر پخې پېغلې شاعرې په هکله پوښتلي وو چې دافلانۍ پېغله ده که واده؟ نو هغه ورته ویلي وو چې له پېغلتوب څخه یې خدای خبر دی خو مېړه نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جدايي راغله لارې دوه شوې

له دې ځايه چې رخصتيدو بيا مو يوځايي انځورونه واخستل، تيليفون نمبرې او د ايميل ادرسونه تبادله شول.

بيا مينې را وپارېدلې غېږ کې نيول ، ښکلول ، او ژړل پيل شول ، خو بيا هم له بېلتون پرته بله چاره نه وه ،يوبل مو په ژړا ببل کړ او روان شو زه، سيمين ،فرخنده او استاد قويم خپل هوټل ته راغللو او هغه نور خپلو هوټلونو ته لاړل.

هغو نورو سبا سهار الوت درلود اومونږ استانبول ته مازيګر ۵ بجې.

سبا مو کوم رسمي پلان نه درلود ، لس بجې سهار زه ،سيمين او فرخنده نږدې بازار ته په سودا پسې ووتلو ، يو ساعت ګډ وګرځېدلو هغوی غوښتل د نوښهرې لوی بازار ته لاړې شي، ما ځکه منع کړې چې بيا الوت له لاسه ورنکړو خو ويې نه منله، ترې بېل شوم ،يو هوټل ته وختلم ډوډۍ مې وخوړه، په يوه مغازه کې مې ځينې شيان وپېرل او پلي هوټل ته راغللم ګورم پنځه شپږ دقيقې وروسته دوی هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغللې ویل یې چې له تا تر بېلېدلو وروسته زموږ خوښه هم رانغلله چې لېرې لاړې شو.

له دوه بجو وړاندې مو اطاقونه پرېښودل ځکه چې که له دې وخت څخه وروسته مو اطاق نه وای پرېښی نو دوه سوه ډالره دبلې شپې هم راباندې راتلل ،بکسونه مو په رسپشن کې کېښودل، زه په کوچ کې ویده شوم او هغوی خبرې کولې ،درې نیمې بجې راپسې موټر راغی سامانونه مو یې بار کړل او دنوشیهرې هوایي ډګر ته روان شوو.

په ښار،بازار، رنګینو دښتو او غونډیو کې موټر شاوخوا **۵۰** دقیقې مزل وکړ، لار بندي او ترافیکي ازدحام هم نه و ، داچې موږ مېلمانه و نو موټر یې آن د ترمینل تر دروازې پرېښود. همدا چې له دروازې ننوتلو نو دمیز تر شا ناستې ښځې ته مو ټکټونه وروښودل هلته هم بیروبار نه و دستي یې بورډینګ پاسونه راکړل د بکسونو تول او لټولو هم ډېر وخت ونه نیوه، هرڅه ژر او اسانه تېر شول،په ترمینل کې لوکس تشنابونه او کانتین و همدلته مې د مازیګر لمانځه لپاره اودس وکړ ، د انتظار لپاره څوکۍ پرېمانه وې پوره پنځه بجې الوتکې ته د ورختلو غږ وشو، د ترکیې د هوایي کرښې (ترکیش ایرلاین) کوچنۍ بوینګ ته وروختلو، په الوتکه کې تشې څوکۍ هم وې او ګڼ نور سیلانیان هم راسره ملګري شول ، الوتکه پوره پنځه نیمې بجې په نوې (ځغاست لیکې) والوتله ،لاندې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبو کې شفق لامبلې بحرته ورته پراخه اوبه چې شفق د وینو رنګ ورکړی و لږ وړاندې د غونډیو منځ ته ورننوتلې اولږ وړاندې ځنګل ښکارېده ،نور نو رڼا خپله لمن راونغاړله، اوځای یې ستورو او سپوږمۍ ته پرېښود ، کله کله پریمانه برقونه او رڼاګانې ښکاره شي چې د لویو ښارونو د موجودیت څرګندوی وي انقره هم نوښهرې ته نږدې ده او الوتکه باید د انقرې له پاسه استانبول ته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د استانبول رڼاګاني

شپږنیمې بجې وې چې الوتکه د استانبول په زرینو رڼاګانو ورننوتله، لاندې دې چې څومره نظر کار کوي نو رڼا ګانې ښکلاګانې او د طبیعت ترڅنګ د صنعت کرشمې ترسترګو کېږي، الوتکه د شمندر پر لور ورتاوه شوه لس دقیقې وړاندې لاړله، سمندر د استانبول له ناوې ښکلې ښار په دوه برخو ویشلی دی د بحر له منځه د استانبول دواړه خواوې ښکاري، اسمانڅکې، پېژندل کېږي، الوتکه بېرته را تاوه شوه، د ښار بله خوا موهم ښه ولیدله، په الوتکه کې ځینې خلک کرار ناست دي، ځینې مطالعه کوي دوی به د استانبول په ښکلا ماړه و خو موږ خپلې سترګې په لسو کې ضرب کړې وې.

الوتکه د استانبول پر ښار ښه تاوه راتاوه شوه بالاخره اوه بجې د مصطفی کمال اتاترک په کورني هوايي ډګر کې کېناستله، د الوتکې خواته موټر راغی ترمینل ته یې روان کړو، دا هوايي ډګر هم ډېر لوی دی، موټر څو دقیقې مزل وکړ چې ترمینل ته را ورسېدو، دلته د دخولي او خروجي او د بکسونو غم نه و، له استانبول څخه کابل ته پرواز ته پوره اته ساعته وخت و، له هوايي ډګر څخه بهر راووتلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومو پتېيله چې په استانبول کې وګرځو ،فرخندې او سيمين له يوې ټکسي سره خبرې وکړې، بې له دې چې ما او استاد قويم وپوښتي بلې ته ورغلل استاد قويم ماته وويل دوی له تا پوښتنه کړېده چې چېرې ځو ، ماورته وويل نه، هغوی ته په غوسه شو ورته ويې ويل کم ترکمه مورږ خو خبر کړئ چې چېرې مو بيايئ؟

فرخندې هم رټ ځواب وکړ: ستا خبرولو ته اړې نه يو ،ته کولی شې خپله خپل تصميم ونيسې ، مامداخله وکړه ورته ومې ويل خير تاسې چې تنها خوشحاله ياستئ نو مورږ به خپل تصميم ونيسو ستاسو دې الله مل شي، نجلۍ بېرته را ماته شوه ويل يې،نه نه ولې مورږ ستاسو په ډاډ ګرځو، يو ځای ځو ما ورته وويل نوبيا ښه ده چې له چا وپوښتو چې د سيل مناسب ځای او يا ګرم بازار کوم دی، چې هملته ورشوو له پوښتنې وروسته مو پرېکړه وکړه،چې جيولري يا د ګاڼو بازارته لاړ شو، دوی هم پرته له دې چې له ټکسي سره د اجورې خبره وکړي ټکسي ته وختل،ما ورته وويل چې ګورئ له ټکسي سره خوبيه معلومه کړئ، بيا به ورسره په لانجه پاتې ياستئ، سيمين وويل راځه وبربره مه ځومره به واخلي، خير ما ټکسيوان ته وويل چې ترجيولري بازار ځو اخلې هغه وويل داچې تاسې مسافر ياست نو خير شپېته ډالر به راکړئ، سيمين او فرخندې چې دا واورېدل اوه ـ اوه يې ډېر وکړل، ژر بېرته راښکته شولې، بالاخره په پنځوس ليرو مو موټر پيدا کړ ورته مو وويل چې د استانبول په مشهورو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلیو واټونو به مو جیولري بازارته بیایي ،تکسیوان ښه سړی و ښه ډېر یې وګرځولو او ښه مزل یې هم کاوه بېروبار هم کم و په تکسیم چوک جیولري بازارته لاړ، دده په وینا اویا کیلو متره لار یې وهلې وه په جیولري بازار کې یو مارکېټ ته ننوتلو ،مارکېټ نه وسم، ښارو ، لس پوړه ،په هر پوړ کې سلګونه دوکانونه د مارکېټ په منځ کې ځو ځایه هم برېښنایي پوړۍ ، هم لفت او هم د پلي ختلو لپاره پوړۍ جوړې وې.

درې پوړه یې تر ځمکې لاندې و ،ترځمکې لاندې هوټلونه، د فاست فوډ (بېړني خوراک) او مشروبات دوکانونه و ،دا دوکانونه ډېر پراخ او ډېر ډک وو، په هر پوړ کې څو کتاره دوکانونه و دې لوی مارکېټ ته سړی حیرانېده.

په هر دوکان کې څو څو تنه پېرونکي ولاړ او ناست وو چې ډېره برخه یې ښکلې انجونې وې، استانبول په بې حجابۍ اوبد حجابۍ کې تر اروپا کم ندی، د ډېرو کمو به د تیو څوکې ، ورنونه او سرپټ و ، غوښه ډېره برخه یې په یو بنین او نېکر کې ګرځېدل، د ترکانو ښکلا خو ټول منې ددوی د سپینو مټو ، ورنونو او ګلابي اننګو په لیدو به ماته دا ټپه ډېره ذهن ته راتلله:

کلي کې یو لېونی نشته

سپینې پایڅې مې په پنډۍ خوله لګوینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځـواني، دا مسـافري، دا جـادوګره ښـکلا ، دا ازادي او دا ډک جېب او د استانبول تخنوونکې او لمسوونکې ښکلا.....نودچا پلاربه ورته تاب راوړي.

پـه مارکېټ کـې د افغانسـتان پـه انډول هرڅه ځو چنده قېمتـه و ، يوجوړه منځني بوټان ۴۰۰ ليري ،هغه مهال په کابل کې يـو ګرام عربي سره زر پـه ۲۲۰۰ افغـانيو و خـو هلتـه مـو چـې بيـه کـړل نـو لـه ۳۰۰۰ زره افغانيو هم قېمته تمامېدل.

يو منځنی ساعت په ۲۰۰۰ ليرو ،يو سينه بند پـه ۵۰ ليرويا شاوخوا ۱۸۵۰ افغانيو و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چې خان یې په یاران یې

ما غونډتل په استانبول کې له دې څو ساعتونو اعظمي ګټه واخلم زما د طبیعت یو خوږ ملګري ډاکټر نصیرله څو کالو راهیسې هلته اوسېده.

راته یې ویلي و چې په تکسیم میدان کې اوسېږي چې ټیلیفون مې ورته وکړ دستي یې غوږ ی واخست کله مې چې ورته وویل په استانبول او په جیولري مارکېټ کې یم نو ډېر خوشحاله شو ویل یې دادی په لس دقیقو کې در رسېږم،له ملګرو سره مې خبره شریکه کړه ما ویل ښه ده چې هر یو ازاد او په خپل طبیعت وګرځو، ورته مې وویل دوه بجې به په هوایي ډګر کې سره یو ځای شو.

ترڅو چې لاندې راتللم او د مارکېټ له مخ څخه د سړک پر سر تم ځای ته برابرېدم نو ډاکټر نصیر راغلی و.

بیا هم ډېر خوشحاله شو، ما د ترکیې په لار یونو کې تکسیم میدان نوم ډېر اورېدلی و ماډاکټر نصیر ته وویل چې لومړی تکسیم میدان ته ځو، هغه په خندا شو ویل یې تکسیم نږدې دی وروسته یې ویل لومړی یو بل ځای ته ځو ټکسي ته وختلو ، څو شېبې وروسته د یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لويې ودانۍ مخ ته ښکته شو، ګورم لوی او لوړ هوټل دی او د پاسه پرې میرټ هوټل لیکل شوي دي، ډاکټر صاحب وویل لومړی دلته ډوډۍ خورو بیا به ښه ډېر وګرځو ،ماورته وویل چې اشتها نلرم خو ویې نه منله، په لفت کې نهم پوړ ته وختلو، د کړکۍ ترڅنګ کېناستلو د استانبول او تکسیم میدان ښه سیل ترې کېده ښه مزه داره ډوډۍ مو وخوړله، ډاکټر نصیر راته وویل چې دا د استانبول مرکزي سیمې دي. بهرنیان ډېر همدلته د تکسیم میدان شا وخوا هوټلونو کې اوسېږي، دلته په هوټلو کې هرڅه پرېمانه دي او شراب، خو په ټوله ترکیه کې له اوبو ارزانه دي.

هر ډول ګران بیه او ارزان بیه انجونې له یو ساعت څخه تر څو میاشتو له کوم تکلیف او تشویش پرته شته دي، داچې دا سیمه د بهرنیانو د اوسېدلو ده نو پولیس هوټلونه ته نه ورتاوېږي، انجونې خپل کاروبار او غریبي ازاده کوي.

هغه له یوه ټکسیوان سره د کیلومټر په حساب خبره وکړه ورته یې وویل چې څو ساعته به له موږ سره یې.

ما د مشهور ترکي طنز لیکونکي عزیز نسین د سیاسي طنزونو هغه ټولګه ( D D ) چې هغه یې د لیکلو په تور پنځلس کاله بند تېر کړی او محترم ډاکټر فرید بزګر د خرمړي په نوم پښتو ته ژباړلې څوځله لوستې ده په خرمړي کې د (یو بهرنی په استانبول کې) تر سرلیک لاندې یوه خوندور طنز دی عزیز نسین په طنزیه ژبه د دې بهرنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیلاني کیسه انځور کړې چې په استانبول کې تر استانبولي ډېر بلد و او د ډېرو مشهور، لوړ بیو، کم بیو هوټلونو، پارکونو، حمامونو سرایونو، موزیمونو، سینماګانو، تیاترونو او ... ادرسونه او معلومات ورسره و، په داسې حال کې چې استانبولي په دې اړه تر هغه ډېر کم معلومات درلودل.

ما ډاکټر نصیر ته وویل چې د استانبول په اړه چې ما څومره اورېدلي هغه خو په دوه اونۍ، کې هم لیدلی نشو، خو د وخت ته په پام سره ډېر مشهور ځایونه راوښیه، هغه هم ښه کړه هغه ښه ترکي وایي ډرېور ته یې څه وویل او روان شو، لږ وړاندې یې موټر ودراوه ښکته شو راته یې وویل دا د اسیآ او اروپا دلویو وچو سرحد دی، تر دې خط دیخوا اسیا او اخوا اروپا ده، راځه یو قدم په اسیا او بل پر اروپا کېږده چې انځور دې وباسم، لږ وړاندې موټر پر ډېر یو لوړ او اوږد هوایي پول ورو وخوت، دا فولادي پول د بسفر پر تنګي، په کال ۱۹۷۰ زېږدیز جوړ شوی ( ۱۱۵۰ ) متره اوږد ( ۳۹ ) پلن او ( ۱۰۵ ) متره له سمندر څخه لوړ دی، د پله له بیخ څخه داوبو تر سطحې واټن ۶۲ متره دی.

د پوال له لاندې نه ښکاري خو پاس دواړو خواو ته د پلې لار تر څنګ شپږ سړکه هم لري یعنې په یو وخت کې پرې شپږ موټر ځایېږي، پول ډېر ښکلی څراغان او ماډرن دی، موټر پرې په سل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اویوسل او شلو کې تېرېږي دا پول لاندې کومه ستن نلري ،ټول په کېبلونو تړلی دی د پله له پاسه ،لاندې سمندر ښه خوند کوي.

د دې پله په لیدلو ماته په افغانستان کې د امریکایانو په مرسته د جلال اباد ـ کونړ پر لار د کونړ پر سیند هغه جوړ شوي ځو پلونه رایاد شول چې میلیونه ډالر پرې حساب او پر افغانانو احسان شول ، خو کیفیت یې دا سې وو چې له پرانیستې وړاندې ونړېدل، هغه پول هم راپه زړه شو چې له جوړېدلو وروسته چې کله پرانیستل شو نو دهغې انجیو رئیس چې د دې پول پر جوړولو یې میلیونونه ډالر اخستي و له موټر سره د دې پله له پاسه له دې وېرې چې دا پول ونه نړېږي او دی د سیند مستو ځپو ته حواله نشي، تېریدلو ته نه چمتو کېده؟

په ښار کې ډېر وګرځېدو زما په غوښتنه یې د ترکیې تر ټولو لوی او ښکلي مسجد سلطان احمد ته وروستم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رښتيا هم عاشق ړوند وي

يوه بجه په زورلو سوداګريز مرکز کې له موټر څخه ښکته شو ټکسي مو رخصت کړ، ډاکټر نصيرراته و ويل راځه چې د استانبول ميټرو هم درباندې وګورم او ورو ـ ورو به هوايي ډګر ته هم نږدې شو، هغې برېښنايي زينې ته ورغللو چې ميټرو ته ورښکته شو بېده ، ما په اروپا او روسيه کې ډېر زيات داليدلي چې هلک او انجلۍ دنورو په وړاندې او په ډک بازار کې له يوبل لاس تاو او يوبل ښکل کړي، شونډې يې په شونډو کې ونيسي، آن په غېږ او زنګانه يې کېنوي، په ترکيه او په ځانګړې توګه په استانبول کې هم دا دود ډېر زيات دی ، هر شل د ېرش متره وروسته همدا سې يوه صحنه ويني خو دا صحنه بې ببلګې ده او ښايي لوستونکي هم لږ ورسره مخ شوي وي، او د حيرانتيا خبره داده چې په يوه اسلامي هېواد کې هغه هم دا سلامي خلافت او عثماني امپراطورۍ په زېږنځی کې ترسره کېږي.

څو کاله وړاندې کله چې ما په پژواک خبري اژانس کې کار کاوه نو زموږ يو ملګری او همکار هند ته تللی و ،کله چې ببرته را وګرځېد نو موږ ته يې د ډهلي کيسې کولې، دکيسو په منځ کې يې د ډهلي دشاهي مسجد يادونه وکړه کله يې چې دا مسجد را پېژندنه لږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وجد راغی غږ یې پورته او توازن یې خراب شو ویې ویل (( دحیرانتیا خبره داده چې دا مسجد څلور سوه کاله پخوا جوړ شوی دی او هغه هم د مسلمانانو په لاس )) زموږ دوست او دهرچا دوست ښاغلي نعمان (دوست) ددې خبرې په اورېدلو نور خپله خندا ټینګه نکړی شوه پخ یې وهل ورته یې وویل نو ستا خوښه وه چې دا دومره لوی او ښکلی مسجد هندوانو جوړ کړی وای.

نو تاسو به هم وایئ چې په اروپا او امریکا کې خو اخلاقي کوډونه او حدود نشته، دا سمه ده چې هلته دموکراسي او ازادي شته خو پولې لري، داخو مسلمانان دي چې په هر کار کې افراط کوي او پولې ماتوي.

کیسه دا سې وه چې کله موږ په بربېښنایي پوړیو لاندې مېټرو ته ورښکته کېدلو د استانبول میټرو هم د روسیې د سانکت پیترزبورګ د میټرو په څېر ترسمندر لاندې تېرېږي، نو ځکه ډېره ژوره ده، نو زموږ په څېر لسګونه کسان نور هم پر پوړیو لاندې روان و ، ګورو چې یو هلک او یوې انجلۍ یو بل به غېږ کې کلک نیولي او یو دبل شونډې زبېښي ،انجلۍ کاپره ډېره ښکلې هم وه په همدې کې هلک ډېر ګرم شو موږ ټول ورته ګورو چې دا نجلۍ د پطلون کمربند ته یې لاس کړ کمربند یې پرې خلاص کړ نبکر او پطلون یې لږ وښویول د انجلۍ کوناټی یې نیم لوڅ کړ او کرار کرار یې لاس پرې واهه، دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره مدهوش و چې دا ټول خلک ورته بتان او ټول سرونه ورته کدوان ښکاریدل.

په روسیه ،ایران او ځینو نورو هېوادونو کې دمټرو کرایه یوه ده، لیرې ځې او که نږدې، خو په هند او ترکیه کې بیا دمسافې په اندازه ده له موږ څخه یې هم دهر تن په سر د ټکټ پنځه لیرې واخستلې، یو ځای کې ښکته شوو ،پاس لاړو ډاکټر نصیر وویل چې همدا پخپله تکسیم میدان دی،له دې ځایه په ملي بس کې مصطفی کمال اتاترک هوایي ډګر ته ځو ،هلته یوې غرفې ته ورغی په لس لس لیرو یې دوه ټکټونه راواخستل، ښکلي او لوی بس ته وختو ،بس پوره ۵ دقیقې وروسته حرکت وکړ ډاکټر صاحب وویل دابس پر داسې لارو ځي چې دښار ډېرې برخې درباندې ګوري رښتیا هم بس د استانبول پر واټونو ښه تاو راتاو شو دوه بجې د اتاترک نړیوال هوایي ډګر مخ ته ښکته شو ، ډاکټر نصیر د بورډینګ پاس د اخستلو تر ځایه راسره ملګری و نور نو ده ته د وړاندې تللو اجازه نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یا لندن یا مرګ

اتاترک نړیوال هوايي ډګر ډېر لوی او د څو ترمینلونو درلودونکی دی، وخت کم و وارخطاوم چې له پرواز نه پاتې نشم، د خروجي د وهلو ترځایه ډېره لاره وه دلته تل ډېر بیربار وي، دا نړیوال هوايي ډګر د ترانزیت د مرکز او دالوتلو د تبادلې منځی دی ، دلته په هرو څو دقیقوکې یوه الوتکه کېني او یوه الوځي د خروجي وهلو ځای ته چې لاړم په یوه سالون کې له ډېرش غرفو ډېرې وې خو هر غرفې ته اوږ ده کتارونه ولاړ و خو مامورینو سم کار کاوه ،د افغانستان په څېر بیروکراسي او کارماتونه نه وه ،په څو دقیقوکې نوبت راغی، خروجي مو ووهله هغې دروازې ته ورغللم چې کابل ته ترې الوت کېږي، په بورډنګ پاس کې یې اته ویشتمه دروازه لیکلې وه په پوښتنه مې پیدا کړه چې ورغللم ګڼ نور افغانان هم راغلي و.

ماهغې برېښنايي لوحې ته چې د الوت وختونه ،د وتلو دروازې او د الوتکو نوعیت پرې لیکل شوي وي کتل چې یو دریشي کړي ښکلي ځوان راڅخه په پښتو د الوت په اړه پوښتنه وکړه، راته یې وویل چې په ټلویزیون کې یې ډېر لیدلی یم ،ماورته وویل راځه چې هلته کېنو نورې خبرې به کوو ، ترې وم د ماشیني دوکان چل مې زده کړ پیسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مي ور واچولې اوبه او پېپسي مې ترې را واخستې، دې ځوان خپل نوم جان اغا ، دلغمان ولايت د مرکز او سېدونکی را وپېژانده ويل يې چې پلار يې غريبکار او په مزدورۍ يې ژوند روان دی، په پور او پېغور او د کور د سامان په پلورلو يې نهه لس زره ډالره پيدا کړل او په ډېرو خطرناکو لارو او ځنګلونو لومړی له افغانستان څخه ايران ،بيا ترکيې او بيا يونان ته ورسېد ،دده په وينا ،غوښتل يې د نورو افغان ځوانانو په څېر ځان وروستې هدف(لندن) ته ورسوي، دوه کاله يې د يونان په کمپونوکې تېر کړل په دې دوه کالوکې يې د ورځني لګښت او له يونان څخه د وتلو لپاره څلور ځله له کوره نورې پيسې هم را وغوښتې خو بخت ورسره ياري ونکړه، هرځل به ناکامېده،دی وايي له يونان څخه ايټاليا. لندن او د اروپا ځينو نورو هېوادونو ته يو ډول کوچنۍ بېړۍ چې دوه درې تنه پکې ځايېږي، ځي او دومره چټکې دي ، چې د دولتونو د ګشت او ګزمې بېړۍ هم ورپسې نه رسېږي دابېړۍ دوه زره يورو اخلي او انسان يا هدف يا ګور ته رسوي، په دې بېړيوکې د مرګ د چانس سلنه اويا او د رسېدلو د پرش ده، دی وايي کورنۍ يې په دې بېړيو کې له سفر څخه ډېر منع کړ خو ده د کلي اوتره او تربور د پېغور له کبله بېرته ستنېدلو ته زړه نه ښکاوه، له پلار څخه يې وغوښتل چې هرڅنګه کېږي ده ته دوه زره يورو ورولېږي او د ژوند دا قمار هرو مرو وهي خو پلار يې چې هرڅومره سر او تندی وواهه ايله يې دوه زره ډالر برابر کړل، په دې پيسو داکار نه کېده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاسپورت يې لا پخوا څېرې کړي و ، دکور فشار هم ورباندې ډېر و هېڅ چاره نه وه له دې دوه زرو ډالرو هم ايله همدومره پاتې شول چې دکابل هوايي ټکټ پرې وشي،بالاخره د زهرو غرپ کوي په يونان کې د پناه غوښتونکيو اداري ته ځان سپاري هغوی ورته په يوه کاغد لاسليک او مهر لګوي او دهمدې ورقې په مټ د الوتکې ټکټ اخلي او بېرته د ترکيې له لارې کابل ته ځي، له ده سره له کابل څخه لغمان ته دتللو د موټر کرايه هم نه وه، نابلده هم و کله چې کابل ته راورسېدو نو تر محمود خان پله پورې ما ورساوه او کرايه مې هم ورکړه.

دا يو اغاجان نه و چې له يونان څخه راستون شوی و ، پنځه شپږ نور ځوانان موهم وليدل چې برخليک يې له اغاجان سره ورته و ، آن ځينو خو يې دوه کاله بند هم تېر کړی و

له جان اغا سره په خبرو بوخت وم چې د جناب پير سيد احمد ګيلاني په دوهم اوکشر زوی ښاغلي سيد محمد ګيلاني مې سترګې ولګېدلې سيد محمد ګيلاني دامهال په اردن کې د افغانستان سفير و ، ،سفيران سياسي پاسپورت ، ديپلوماتيک مصؤونيت او ځانګړی پروتوکول لري،هغوی ( VIP ) يا ډېر مهم اشخاص وي او له (VIP) لارو څخه الوتکو ته ورځي، خوما ونه غوښتل چې له ده وپوښتم ولې له عمومي لارې سفر کوي، له ده سره مې هم دافغانستان دملي اسلامي محاذ چې دامهال يې زه دفرهنګي کمېټې رئيس وم پر کړنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر بحث او مشورې وکړې، دمرکې او بحث لپاره مو کافي وخت درلود.

له ده مې اجازه وغوښته چې دخپلو ملګرو پوښتنه وکړم ،لړ ورانديې سيمين او فرخنده کلکې ويدې وې او استاد قويم ناست و ، له ما ګيله من و چې دوی مې يو ائې پرېښودل ويل يې دوی چې له جيولرۍ مارکېټ څخه راووتل نو لږ وګرځېدل او بېرته هوايي ډګر ته راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دسفرپای

بالاخره درې نیمې بجې الوتکې ته د ورختلو غږ وشو په الوتکه کې زما یو خواته استاد قویم او بلې خواته فرخنده برابره شوه.

دترکیې دهوایي کرښې اړوند الوتکه د رڼا ګانو او چراغان له ښار څخه والوتله خلک بې خوبه وو دالوتکو خدمه و مخکې ترمخکې په هر سیټ کې یوه پراشوټي کوچنۍ خلته چې دخوب ټوټه یې عینکې او جرابې پکې وې ایښې وې ،ډېر خلک ویده شول ماکتاب را واخست، خو ګروپونه یې ګل کړل، لپ ټاپ مې را واخست، د اوبو دبوتلو وبش پیل شو ، لږ وروسته ګروپونه بېرته روښانه او ډوډۍ یې راوړه سپرلیو په بې رغبتۍ وخوړه له ډوډۍ وروسته بېرته ګروپونه مړه او تیاره حاکمه شوه، زه هم ویده شوم خوکله مې چې سترګې وغړولې نو دالوتکو له کړکیو بهر تود لمر ښکارېده.

نهه بجې یې دکابل هوایي ډګر ته د نږدې کېدلو او دکمربند د تړلو غږ وکړ پاوباندې نهه بجې الوتکه کابل ته راورسېده، دکابل پر فضا یې اوږده دوره وکړه ،ختیځ ته لاړه آن دسروبي بازار هم ښکارېده، کله چې الوتکه دکابل پر سپېرو غرو او غونډیو، تاوېده اوپه ځانګړې توګه د کابل دهوایي ډګر دشاوخوا بې بې مهرو تپې ،نادرخان مېنې (

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیرخانې) قصبې ، بت خاک ، او مرنجان د تپو پر غاړو او څوکو خړ او خټین کورونه او سپیره او له ګرده ډک چاپیریال وویني او د استانبول د طبیعت او صنعت د ګډ امتزاج محصول له ښکلا ، تک شین فطرت ،اسمانڅکې ،دښار په منځ کې تک شین سمندر، رنګین کورونه اورنګین ښار یې په زړه را وورېږي، نو داسې انګېري چې ګویا د ژوند یو له نړۍ د مړو هدیرې ته راغلی یم ، خدای شته همدې تصور په زړه کې ډېر وځورولم او هرځل چې له بهرني سفره کابل ته را رسېږم نو همدا مقایسه مې ځوروي.

دلته د دخولي وهلو ته په کتار ودرېدو ، د استانبول د کتارونو په انډول دا بیروبار له نشت سره برابر و خو بیا هم کوم نیم ساعت په لیکه ولاړ وو ،سیمین او فرخندې ته مې کلک ست وکړ خو فرخندې ویل چې همدا نن مزار ته روا نه ده په دې ډول دا سفر هم پای ته ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى کړى، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانى ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (حاجي محمد انور اخندزاده) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته يې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ يې پيل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library




د خپرونو لړ: ۴۶

د افغانستان ملي تحریک

www.melitahrik.com



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**